د اخوریلیک

لیکونکی:

پښتو ټولنه

غلام غوث «خیبری»

یادو نه:

ددې کتاب په کتلو او اصلاح کښې دښاعلی صدیق الهخان «رشتین» لهخوا دد ه دریاست په وخت کښې مرسته شو ی ده د پښتو تو لنی د مجلې څا نګه دنوموړی محترم دامرسته دیادولو وړ بولی (اداره)

پرله پسی لمبر (۱۲۱)

داور لمبې

PROPERTY OF
ACKU
5638

لیکونکی: غلام غوث د خیبری .

د پښتو ټولنې د مجلې له خانګې

د چاپ شمېر
۱۰۰۰

د طبع نېټه د ۱۳۳۵ کال
د قوس میاشت

ددې کتاب ز یاته برخه هغه حقیقی پیښې د ی چه په ۱۸٤۲ ع او ۱۸٤۱ ع
کلونو په پښتو نخوا کښې پیښې شوی د ی .

دانګلیس اوافغان هغه جنګ چه په(۱۸٤۲ ع) کښی ئې دانګلیسا نو په شکست خاتمه ومونده نتجه ئې څرګنده ده او باخبره خلك خبر دی چه دپرپر نګیا ن ځینې ووژل شوه او ځینې دپښتنو په لاس کښی بندیان شوه .

کپتان جانسن پوتن له دغو بندیانو څخه دی چه په خیبر کښې نیو ل شوی اوښاغلی خیبرې ئې تاسونه قصه کړی .

پدې قصه کښی علاوه دپښتنو په توره اوننګ وغیرت ه دوی ا خلا قي رویه اوانساني سلوك هم یوداسی فضیلت دی چه دښمن هم پرې اعترا ف کړی اوله دغی ستا ینی نه ئې ځان نه دی ژغورلی .

پښتو تولنه ددغسی آثارو نشرول دپښتو اوپښتو تولنې په لحاظ مفید ګڼی اوآرزو لری چه دښاغلو اوستونکو خوښی به څه نه څه حا صله کړي ځکه چه هرځوك دخپل شهامت او شجاعت قصې په مینه اور ی او د خپل تاریخ دغه برخه په ډیر شوق لولي . (ګل پاچا الفت دپښتو تولنې ر ئیس)

داورلمبی

کرانولو ستو نکو د پوهنی وزارت په تول کو ښښې د پیاورې و زیر
د کتور علي احمد پوپل په خاصه توجه دپښتو تولنی په واسطه دپښتو خدمت
ته ځان چمتو بولی اوپه خپل نها ئی ها ند او کو ښښې غواړی چه د پښتو
ملی ژبه وړاندی ولاړه شی داخبره به تاسوته تاریخی تجا ر بو ټو د لې و ی
چه دژبی پرمخ تګ د کلتور په وړاندی بېولو پوړې ترلی دی او کلتور بیاد
ملی شعایرو پر ر نا ا چو لو یو ر ی تعلق لر ی نو ځکه پښتو تو لنه
په همد ې لار کښې زیات ترزیات پاملرنه ضروری بولی اوداضرور ت د همد ې
دو ل اثر په چا پولوتر یوه حده رفع کول غواړی چه سنا سوپه مخ کښې دی دا
اثر وړو کی دی مګر بنا ئې چه دمعنی په لحاظ پښتنی دنیاورته دقدر په ستر که
و ګوری چه د کابل دمجلی اداره ئی دبر ګ سبز تحفه درو یش په نامه تا سو ته
وړاندی کو ی (محمددین ژواك د کابل مجلی مدیر .)

څوکربنډی!!!

د ۱۸٤۰عیسوی کال په اخر کښې، د انګریزی پلټنې له څلورم ریجمنټ څخه دولس تنه په پټه سره د علی مسجد اوجمرود په لاری، جلال آباد او بیا دهغه ځای نه کابل ته راننوتل اودخپلو نورو ملګرو سره چه دډیرې مودی نه را په دې خوا په افغانستان کښې وو ویو ځای شول... ددې دولس تنو په وله کښې یوجانسن نومیده چه تاریخ ئې نوم ښه پیژنی.

کیدی شی چه دجانسن په باب کښې به ځینو تاریخونو اولیکونکو نور څه لیکلی او بیان کړی وی، خوحقه خبره دا ده چه جانسن په دې خاوره کی د د یرو شخړو اوخونړو جګړو نو اونښتو شاهد ؤ.

همداجانسن بیا کیپتان شو او اوس هماغه کیپتان داورد لمبو قهرمان دی.

ماچه جانسن داورپه لمبو کی اړولی را اړولی او دلیکنې په حکم می دحقیقت او تصور په منځ کی ورګډ کړی دی اوداپه دې دلیل چه زه یو لیکونکی مختار کښم چه په هرډول ئې زړه وی، تاریخی حقایق دقلم لاندی را ولی خودلیکلو دحقیقت ډول ته باید چه تغیر ور نه کړی.

تاریخی پاڼې اړول را اړول اودهغو له منځ نه دلچسپی واقعی راو یستل اوپه بل شان دهغو بیانول زما په خیال سودمند کاردی او که سو د مند نه وی نو ضرر من خوله سره نه شمیرل کیږی..

داورپه لمبو کښې چه زیاتی برخی تیریږي، تولې حقیقی تاریخی پیښې دی اوداپیښې اودهغو بیان چه که دجانسن یادکوم خیالی قهرمان له خولی نه راوزی څه ګناه یاخطا نه ده بلکه دلیکوال ، دلیکنې توان ، دتصور قدرت اوداوسنی عصرغوښتنه داتول ددی خبری اجازه کوی...

زه وایم که یولیکونکی کوم وحقیقت په سل رنګه ولیکی او په اصل مطلب کې دیر تغیر رانه شی نوپر وا نه کوی اوپه همدی دلیل په دې اثر کښې زما قلم ګام اخستی دی..

په دې کتاب کښې تاسو یوانګریزی افسر گورئ چه په څه مقصد پښتو نخوا ته راځی اوبیانقدیر اوقسمت ته گوری چه په څه ډول هغه په دې خاوره کښې دابددپا ره مشتوی ...

ددیروسختو او تنګونه وروسته ئې دپا کی کلمی په او ریدو زړه لرزیږی اونر میږی اوبیا اسلام راوړی .

دپښتنو ژوند ، حقیقی انسانی مینه ، انسانیت ، صداقت په هغه دو مره تاثیر کوی چه دهمیش دپاره هغه دخپل ملګ اووطن څخه لږی ساتی اودیوی پښتنی بی بی سره دیو مسلمان پښتون په حیث ژوند شروع کوی ... جانسن دخپلی پښتنی بی بی سره نه کاله نورهم ژوندون کوی اوپه پای کی دیوپښتون په حیث مری .

غ . خیبری

﴿۱﴾

د برایدن مرګ

دماښام شپږ بجې و ې ..زه د جنرال سیل اومکریګر سره په جلال آباد کې ناست وم چه «برایدن» په وینو رنګ راننو وت اودډیر درد اوستومانتیا نه په ځمکه و لوید .....

اریان پاتې شو.. تولو په تعجب ډاکټر ته کتل ،د خبرې کولو او ځان خو ځولو توان چا کې نه ؤ ... «سیل» ماته اوما « مکریګر» ته کتل، «برایدن» هماغسې د مړې په شان بې حرکته چپه په ځمکه پروت و....

دهغې وړ ځې تار یخ ماته داسې را یاد د ې لکه د ننۍ ورځې نیته چه ډاکټر ښې لیکم

د ۱۸٤۲ عیسوی کال د جنورۍ د میاشتې ۱۳ وړځ، سرما ښام و دده نه ،لس ملته مخکې مونږ د جنرال «الفستن» د ماتې په باره کې خبرې کولې .

«برایدن» هماغه شان بې هوښه پروت ؤ چه زه دځای نه راجګ شو م او د ده سرمې په غېږ کې ونیو. دو ینو څاځکې دا نه دانه دهغه له تندې نه راتوئیدل .. ،چپه ستر ګه ا ودوا ړې پښتې ئې ز خمې شوې وې، ا س ئې لکې نه درلوده ،اوخپله ډاکټر ساډیره په کلار ا یستله ....

«سیل» او « مکریګر » زما په لید ولږ څه جر ئت پیدا کړ او دځای نه راپاڅیدل.. ،راغلل د برایدن څنګ ته کینا ستل اولاس ئې ډاکټر په وینټانو کش کړ...

دری واړه (زه سیل اومکریگر) دویری او تعجب نه لړزید وداو اقعه راته یوه معمی شکاریده نه پوهیدوچه څه چل شوی اوولی «برایډن» په دې حال دی(۱) «برایډن» لږ شانتی رابیدارشو.. جنرال «سیل» ئې په مخ اوبه پونه کړې اوبیائې تر ی پوښتنه و کړه :

ډاکتر... ډاکترڅه شوی.. حال وایه .. ژوه می کړه.. ؟؟ مکریگور اومالکه جل وهلی بنیادم چه اوبو ته ګوری «برایډن» ته په ډیر ځیر کتل ، سترګی مو دهغه خولی ته نیولې وې چه څه به ترې راوزی ..

«سیل» بیا یوه لپه اوبه د ډاکترمخ ته ورواچولې لاس ئې دده دسر په ویښتانو کښښوداووئې ویل :

برایډن ..ډاکټر... تا ته وایم ... خبره څه ده .... برایډن ...' !

داخلی ده دځنکدن نیولی په شان په ډیر زور سترګی ' نیم کښې کړې اوپه وا ر سره ئې مونږ دری واړو ته و کتل.. بیائې خوله پرانسته اوپه ډیر شواخون ئې داتکی د خولی نه راو ئیستل :

...جنرال.. آ.. آل. فن ستن.. لاکن نورئې څه و نشوویلی اوبیا بی هوښه شو ...

مونږ دری واړو ددې نو م په اوریدو یوبل ته سره و کتل تعجب اوحیرانتیا مولا پسې زیاته شوه ' دهمدې کبله سیل بیاد «برایډن» د بیداری د پاره کوښښ شروع کړ ....

یوه شیبه وروسته «برایډن» په حال راغی ' داخل له پخوا نه ښه ښکاریده. سترګی ئې پرانستی اوپه داسی آواز چه ته به وائی له قبر څخه راوزی وویل :

---

(۱) د جنرال سیل ' مکریګور او برایډن پوره بیان لپدی سیل به یادداشتونو کی و کوری .

آلفنستن.'' تباه شو.. آه.. لښکر ی ''اکبر ... . دبر ا یدن آ خر نی خبر ه همداوه ..' نورد ویلو اوخبرو نه ؤ 'رنګ ئی سپیره شو 'ستر ګی ئی بل شان شوی 'پښی اولاسونه ئی پـه لرزیدور اغلل ..'خولې خولې شو'حلق ئی وچ شو' لبز لبز ئې سرد «سیل» دغیبز ی نـه رااوچت کړ..'شوندوئی پتری و کړه..'سائې بنده بنده شوه اوپه آخر کی ئی سر بیرته ولو ید..'ستر ګی ئی هوا ته پا تی شوی او بی حر کته شو ..' نور «برایدن» د ژوندود کتا ر ه وتلی ؤ ...

«برایدن» مړ شو..'د ری واړه په دی پوی شول'تول پـه یوه ځوند ه دبرایدن میړی ته کیناستو' خولې مولـه سرو نوځخه لری کړې ...

«سیل» ماته و کتل او زهٔې هم په مطلب پوه شوم' لاړم ا و «انجیل» می را و ړ دبرایدن سر ته کیناستم او بیامی په ا نجیل ویلوشروع و کړه «سیل» ا و « مکر یکو ر » د وا ړ و ژ ړ ل ..' ا و ښکی ئی پـه گر یوان را تو ئید ی ا و ګله ګله به د وا ړ و د ستما ل را و ښکه ا و اوښکی به ئی پرې دستر ګو او مخ نه پا کی کړ ی . . .

کلاره کلاری وه ..' زه لږه شیبه و روسته د کتاب ویاونه خلاص شو م سیل او مګر یکور هم نورنه ژړل ..'یوازی د «رابرت» نوکر ؤچه یوه سپینه کپړه پـه لاس دسیل خواته ودریدل اووئې و یل :

جنرال ... دبرا یدن کفن ...

سیل «رابرت» ته و کتل اووئې ویل:

پـه دې پړه کلاری سره دبرایدن کـالی ولټوی ء..' هرڅه چه پـه هغه کی وی وائې خلې اودمرحوم کورنۍ ته ئې ولیږی ء بیائی ماته مخ را واړاوه اووئې ویل:

کپتان جانسن! ته باید دډاکتر دتیښتی اومرګ حال پخپله پیښور ته یوسی هلته به د ګلاب سنګ (۱) دریجمنت سره یوځای بیرر ته راځي ...

«رابرت» د «برایډن» جیبونه ولټول، هر څه ئې تری راوویستل اوبیائی ټول دجنرال سیل مخی ته کیښودل ... «سیل» هغه شیونه یویو له نظره تیر کړل ..، هریو ته به ئې په ځیر کتل اوماته به ئې راکړل..، ما به هم هغه په ډیره احتیاط په یوه بوجۍ کی اچول دبرایډن دروپو امیانۍ ..، دآپریشن کولو قیچی ..، یوطلائی ځنځیر چه په یوسر کی دهغه دښځی تصویر قاب شوی ؤ، یوه شنه شانتی تکمه اویوه دیادداشت کتابچه ..، داؤدډاکتر دجیبونوشته...

«سیل» چه دبرایډن کتابچه واخسته نوبی اختیاره ئی دهغې په پا نهو نظر واچاوه په اول مخ کې ئی دری نومونه ولیدل :

مارګارت... موبین خان...، ادوارد فیو ری ...

«سیل» هیڅ پوه نشو...، هغه پانه ئې واړوله .، په بل مخ کی دجان میلټون انګلیسی نامی اومشهور شاعر داشعر لیکل شوی ؤ :

«... لیکن الله پاك ددې دپاره چه هغه دویری ترهی نه خلاص کړی سو له ځمکی نه را ولیږله. سولی په ورین تندی اوښائیسته بشره چه دبادام غونچه په اوربل کښې اینبی وه، داسمان دنا کردو نه بې خبره په ځمکه پریوته ..، په سپینو نازکو وزرونوئې چه د کوتری دوزرونو په شان رسېدل، وریځ تار په تار

---

(۱) دمارچ په ۲۸ په ۱۸٤۲ ع کال داسې ی دسیل د کومك دپاره د خپل فوت سر ، دخپر خوته اروان شو ،

کړه اودهغه په‌منځ کې « .... » دلته څو ټکی ښه نه‌لوستل کیدل نو « سیل »
بله پاڼه راواروله او په هغې کې ئې دا کر ښې ولو ستې :

« نن دجنوري ۹... ۱۸٤۲ »

زه دستوارت سره چه‌زخمي‌شوی دی ناست‌وم‌ا ود هغه ز خمونه مې ټړ ل
چه د(تریور) ښځه په کجاوه کې سورد راغله ... دې‌غریبې‌په‌خپل میړه یې
ډیرژړل، میړه ورله په‌جنګ کې سلطا نجان وژلې ؤ(۱)

« سیل » چه‌دا کرښې ولوستې نوبیائې ستر گې‌له اوښکو د کې شوې
کتابچه ئې‌پټه کړه او ماته ئې راکړه ...

ماهر څه وټرل .. ، ټنګ ته‌جوړشوم .. ، بیا مې په‌عسکري سلام دجنرال‌او
مکریګرنه رخصت واخست .. ، دوارو لاسونه‌راکړل .. ، مکریګرراله‌تمانچه
جوړ کړه اوسیل مې بهادرۍ سمه کړه ....

دهغونه چه‌جدا شوم ، کوتې‌ته ورغلم رابرت مې‌هم له ځان سره کړ چه
اس راله‌تیار کړی .. ، هغه‌غریب زمابه‌تګ ډیرخفه ؤ .. ، ژړغونې‌ژړغونې کیده
اوچه تری جدا کیدم نوبې اختیاره‌ئې چغه کړه خوماژر کلار کړ او آینده
ته مې امید واره کړ ...

---

(۱) دتریور مرګ‌دسلطا نجان په‌لاس دلیدنې سیل په‌لیکلې کتاب(د پښتنو یرغل کې)
په‌پوره شرح لوستې شې .

﴿٦﴾

څنګه خیبر ته ورسېدم

دچهار شنبی ورځ وه چه زه د «جرنیل سیل» نه رارخصت شوم ..' په دمه دمه به می لاروهله اومزل نه می کاوه ..' نورهرڅه راسره ووخویواز ی د او بو له پلوه لږه سختی رابا ندی تیر پده ..' په هغوڅ ګو څ ګو غرونو کی مزل کول څه اسانه خبره نده ..'

دباران موسم ؤخوترهغه پوری لایوڅاڅکی باران هم نه ووریدلی ..'شنه هم لږ پیدا کیدل..'هرچا به ذادعا کوله چه خدایه یوڅوڅاڅکی باران وکړی..

زه یو اڅی وم ..' ملګری راسره نه ؤاوپه دې سفر کښی په همدی خبره خپه وم ملګری په سفر کی لوی نعمت دی ..

خیرڅه می کړی وای' کله به می په غزلو ویاو شروع و کړه او کله به می دشکسپیر « هاملت» دجیب نه رابهر کړاوپه مطالعه به می لاس پوری کړ ..' کله به می دډیر خپګان نه ستر گی پټی کړی او کله به می دخپلی بنځی خطونه له جیب نه راوویستل اوبیا بیا به می ولوستل ؟ . . .

څه دپاسه یو کال شوی ؤچه زه دخپلی بنځی «ماری» نه جدا شوی وم اوپه دې موده کښی به هره جمعه دماری نه ماته خط او احوال رانه ....

د«ما ری»د خطونو دلوستونه ماته‌دوه احساسه راپیدا کیده ' یو انتقام اوبل دماشومی «اولیوی» مرګ ....

«اولیوه » زمالوروه ..' په‌هغه و خت کی پنځه کلنه وه..' جګه جوړه وه خوزما دراتـګ لاانه‌میاشتی نه‌وې‌تیری شوی‌چه دهغې‌دمرګ احوال‌راغی ..' په‌زړه‌می دغم‌چپی راغلی..' لـکه مارچیچلی تاوراتاوشوم خوځه‌می کړی وای...

هغه ورځ اوشپه می‌توله‌په ژړاتیره کړه..' کپ‌پوډی‌می خولی‌نه‌رانه‌وړه ...' خبری‌می‌دچاسره نه کولې‌تر دې‌چه‌د کوتی‌له کونج‌نه....هم را ونه وتم بل' دانتقام اوکسات اخستلوحس ؤ چهٔ داوږدلمبوپه شانئې سراو پښی راله سیزلې ..'

«ماری» له‌مانه دطلاق‌غوښتنه کړی‌وه..' لیکلی‌ئې وچه زه‌نورستا دژوند امیدنه ساتم..' داولی..؟ نه‌پوهیږم علتئې هیڅ‌را معلوم نهؤ ...

ډیره‌موده‌داراز «ماری» له‌مانه پټ‌وساته‌خولـکه‌چه دبابادم اوحواخبری پټی پاتی نشوی' دماری رسوائی هم‌پټه‌پاتی نشوه زه‌خولږی وم..' د خلـکوله خولوبه می‌څه‌نه‌اوریدل' یوازی «فرانـک» زمادوستؤ‌چه‌زه‌ئې‌دماری‌له‌شرم نه خبر کړم ...

«فرانـک» ماته په یو مـکتوب کی لیکلی‌و:

﴿۸﴾

جان سن !

ته‌ماو بښه..' زه‌مجبور شوم‌چه دامـکتوب تاته‌ولیکم..' څه مې کړی‌وای ..' د ابه ا لبته ستا شو میت ؤ چه نن ته د خلکو په مخ کی دو مره سپك اوبی قدره شی . . .

څلورورځی مخکی‌ستا «ماری» توره شوه..' ما هم خپله دوستی پر ځای کړه..' هغه‌چاچه ستاماری خپل نا موس‌په هغه خرڅ کړی ؤ' رسماً اعلا ن کړچه ... چه....

او..!جا نسن! زه داپه خوله نشم‌راوستلا ی .. جرئت‌نلرم..' حیامی ژبه گونـگوی..' خیرهمدا یوتـکی‌وایم چه د هغه اعلان‌نه ورو سته ما د هغه موزی سره‌جنگ و کړ

جانسن! نورته خپله وظیفه پیژنی.. پو هیزی چه څه و کړی..

دفرانك خط دلته پای‌ته ورسید ه..' نو ر په کی‌څه‌نه‌ؤ ...

مخکی‌می‌وویل‌چه دانتقام حس لکه وچ‌لر گې سیزلم..' همدامی‌زړه کی گرځیدل چه کله‌به زه‌ورشم او« ماری» به‌په‌سز ا ور سوم دهمد غه د پار ه می‌طلاق نه ور لیږ ه ...

په همد يې‌فـکرو نو او چرتو نو کی وم چه« تور خم» ته نژدی شوم . ..' لږه‌لږه تورزمی‌ر ده اس‌هم نوردتـگ نه ؤ..' زه‌په ناسته ستومانه شوی وم نوبهتره می‌داوٍلیده‌چه دمه‌جوړه کړم..' داس‌نه کوزشوم او دیوې‌تیږی‌خوا ته کینا ستم . . .

اس‌می‌په خپل سرپریښو دچه هرڅه کوی..' په خپله‌می دو دی اواوبه مخی ته کیښودي اوپه‌پاډه‌زړه‌می‌په خوږلو لاس پوری کړ..

یوه‌شپه شیبه می‌په خوراك تیره کړه..' دمه‌می‌سازه شوه' څه قدرته‌می‌ډډه واچوله..' خوب‌ته می‌زړه کیده خوار مان چه ...

آس‌رانه‌لری تلی‌ؤ..' دلپری‌نه‌ئی‌دشنپدو آواز راغی..'سرپه‌سرڅوواری وشنپده دهمدی کبله زه‌هم‌شکی‌شوم..' سرمی یوزته کړ اوشاته می آس ته نظر واچاوه ...

ولړزیدم..' رنګ‌می‌له ویرې والوت..' زړه‌می په وییره کی شو..' ستر گو می توری توری پردي اه ولی..'د تیښتی لاره‌می سنجوله..' آس را نه‌لری‌ؤ' حیران‌پاتی وم‌چه څه وکړم ...

په دي کښی‌می‌دوه «پښتانه» ترستر گوشول کوښښ ئی کاوه‌چه‌زما آس ونیسی..' آس‌ځان‌نه ور کاوه..' دآس‌اودهغوی ترمنځه لا نجه‌وه .....

دهغودووتنو څخه‌یوه‌راته ښکاریده..' دلرې نه ئې حرکات او کړه‌وړه‌دښځی و.' جامی‌ئی هم‌بل‌رنګ وې.' هغوی دآس‌په نیولولګیا و وماډخپلی تیښتی‌دپاره‌لاره‌سنجوله..'هرڅه می ژر ژر راتول کړل‌اوځان‌می منډی‌ته‌جوړ کړ ....

په ګونډه ګونډه می‌په منډو شروع وکړه..' کله‌به مخکی تللم او کله به می‌شاته کتل..' همداشان می‌ښائیسته ښه‌لاره ووهله خو بخت می کوته و اوپه مصیبت ګرفتاره شوم ....

مصیبت داؤ چه دهغو دوه تنو څخه یوه زه ولیدم.. هغه بل ته ئې څه وویل اوبیائې په ماپسې رامنډې کړې ... ماهم ځان چټک کړ او و نه دریدم ...

وارپار می خطا شو ' دواره می لاس تما نچی ته کړ اوپه ماشه می کوته کینبو ده .....

نور دهغه «پښتون» اومړ ګ په منځ کې دومره فاصله نه وه پاتې ' یوازې دماشې را ښکل و چه کار فیصله کړې خو مادا کار و نه کړ ' نه پوهیزم چه ولی .... ؟

زه هماغسې تما نچه په لاس ولاړوم چه هغه ما ته را ورسید ښه می دهغه څیرې ته و کتل .. دې بنایسته ځوان ؤ ' قوی اندام .. ' غټې غټې ستر ګې .. ' تور بریت ' جګه و نه ... ماا وهغه یو بل ته سره کتل ... تما نچه می دهغه سینې ته نیولی وه . ' دډیرې وبرې اوغضب نه می غاښونه چیچل ' دهغویه ژبه نه پوهیدم نوبې اختیاره می په خپله ژبه « انګلیسی » ورته وویل .

- که ژوند غواړې په خپله لاره دې د رومه ...

هغه زماخبرې ته وخندل.. پوه شو م چه زما په خبره پوه شویدی .. ' لیکن باورمې نه کاوه .. '

زدلا په هماغه چرت کې وم چه ځلمی زماخبرې ته جواب را کړ هغه په « انګریزی » ژبه ماته وو یل :

- ښه داسی ده .. ' نو ناغریب لاتر اوسه پو ری دا « قوم » ندی پیژندلی.. ماورته و و یل :

هیڅ ګمان نه کوم په دې ملك کی دا سی څوك پیدا شی چه هغه زمایه ژبه وپوهیزی . نه پوهیزم ته څنګه . . . .

زما خبره لاخلاصه نه وه چه هغه راتو پ کړ او تما نچه ئې زما د لاسه واخیسته .. ' حیران پاتی شوم .. ' هیڅ باور می نه کا وه چه یوداسی کار په ستر ګوو ګورم ...

په دې وخت کی د هغه بل ملګری هم ر ا و ر سید ' د لته می پو ر ه هغه وپیژندله .. ځوانه جنی وه .. ' سره کالی ئې اغوستی وو تورپیکی ئی په تندی یر وت اوسپین تیك ور باندی ځورندؤ . هغې هم توپك څنګ ته اچولی او آس ئې د کیزی نه نیولی ؤ ... په غاړه کی ئې در و پو د که اوزی پر ته وه اودهمدی کبله چه په لا ره به تلله نوښر نګا به ئی کو له .

هغه وخت چه دا راورسیده او د ځلمی په څنګ کی و دریده نو ځملی ورته وویل:

- «زرینی» دادی هغه مستر جان سن چه مونږ ته ئې د نیولو امرراکړشوی ؤ.. جنی وخندل اولاس ئې د ځلمې په اوږه کیښود.. ځلمی مخ ماته راواړو اووئې و یل :

- مستر جانسن ! دازما خورده زرینه اومونږدوار وته ستا د ګرفتاری اونیو لوامر شو ی ؤ .. تالاد «رابرت» نه رخصت نه ؤ اخستی چه مونږ ته ستا دچر کت خبر راغلی ؤ .. ' مستر جا نسن ! ستاسو را برت زمونږ سړ ی دی .. ' هغه ډیره موده کیږی چه مسلمان شوی اونوم ئی «ا کبردی» ...

داخبری ماته د غه ځلمی په انګریزی ژبه کولې .. ' د ډیر تعجب او حیرت نه

می خوله‌واز ه ختلی وه ... هغه څه چه ماپه ستر گو لیدل اوپه غوږ ونو می اوریدل ، خیال مي دأوچه هغه زه په خوب کی وینم ....

ځلمی خپلی خبری پسی اوږدي کړ ی اووړاندیئي وو یل :

- جانسن ! پروسبز کال یعنی د۱۸٤۱ کال دنومبرپه څلورم تاریخ (۱) چه مالفتننت گارد ن واړه هغه وخت‌هم‌ته ماولیدی چه کپتان‌اوبن سن ؟ دي په اوزه اچولی ؤ اوله میدان څخه د ي زخمی وو ...

مستړجان سن‌ازه هغه وخت کی هلته وم خوته‌می لاس ته را نغلي .

ځلمی هماغه شان تقریر کاوه اوزه‌دهغه تقریر اودوینا‌حقیقت‌ته‌حیر ان پاتی وم ، کله به می ده ته او کله به می زرینې‌ته کتل . د یر ساعت په هغه ځای کی ولاړو خواخر زرینی ځلمی ته وویل :

خالده ... نورځه کوو چه دلته ولاړیو .. ځوبه کنه‌چه‌باباجان‌به‌په ټمه ناست و ی ..

خالد دهغې خبره ومنله اوسمدستی ئې زرینه په آس کښنو له او مو نښ دواړه دهغې ترمخه روان شوو ....

---

(۱) داهغه تاریخ دی چه پښتنو دالفتننت‌وارن سره د کابل په قلعه محمود خان کی جګړه کوله

دزرینی پلار

سبا دسهار پنځه بجی دخالد کلی ته ورسیدو ..' زرینه په آس سوره او مـو نـبز ئـی مـخ کی د کلا دروازی ته ودریدو ..' د کـلی خلك دخالد او زرینی دفتحی نه خبرشول ..' تول به دزرینی او خالد مورو پلار ته دمبارکی دپاره دهغوی کور ته راتلل ..' په کـلی کور کښی دخالد د کتی غږ خپور شو.

مونږ لاهمـا غسی د کلا دراوز ی ته ولاړو چه دزر ینـي پـلار را و وت زرینی هم ژر داس نه توپ کړ اولاړه دخالد نه مخکی ئـی د پلار لا سونه ښکل کړل ..' خالد هم هغه کـار و کړ یوازي زه ورسره نا آشنا شانتی پاتی شوم.

دزرینی پلار ماته را نژدي شو ... زما لاس ئی ونیو او په ورین تندی او خندا سره ئي راته وویل ښه راغلی ..' مه ویریږه ..' دلته در ته څه خطر نشته...

مادزرینی دپلار داخبری په ډیر تعجب سره واوریدی ..' دیو دښمن سره داسی پیش آمد کول زمونږ په نزدد باور کولو خبره نه وه.

زما لاس لاهما غسی دزرینی دپلار په لاس کی ؤ چه پاس برج ته وروختو ..' هلته می په برج کی ښه فرشونه ولیدل بیامی دخالد او زرینی ور کوتي وروره ولیدچه دمور په غږیز کښي ناست و ما خیال و کړ چه زما را ټـګ به دزرینی په مورځه تا ثیر و کړی خو می لیدل چه خالد او زرینه لاړل او دمور په پښو کی ولو یدل .. ما سر تیټ واچاوه' وشرمیدم ..' زړا راغله او او ښـکی می دستر گو نه توی شو ي .....

زه دخالد مور ولیدم ..' را نژدي شوه او دزرینې پلار ته ئي وویل :

دزرینی پلاره ! دده خو چابی احترامی نده کړی ..' خالده ځویه تا خو ورسره څهندی کړی ...؟؟

دخالد په ځای زرینی رامخ کی شوه اووئې ویل :

نه مور جانی ..' مونږ خود هغه سره هیڅ ندی کړی ..' همسی به عر یب وبرېدلای وی .....

دزرینی پلار راوراندی سواوزهئې په کټ کښېنو لم..' زرینی او خالد خپل توپکونه دیوال ته ځورند کړل اولاندی په ځمکه په تړ کیناستل ...

دلته خالدزما سره په خبروشروع و کړه ..' ماته به ئې داد ګیرنه را کوله ویل به ئې مه وېریزه ..' تاسره څوك کار کار مارنلرې ..' یوازې همدومره خبره دهچه ته به دلته اوسیزی ترڅوچه .....

په دې وخت کې یوسپین زیری را ننووت چه تول دهغه ددرنښت او احترام دپاره له ځای نه پاڅیدل .....

سپین زیری لا راو دخالد مخ ئی ښکل کړ اوبیا په کټ کی مخامخ ماته کیناست ....

خالد ماته دغه سپین زیری په دی دول معرفی کړ :

دا زما منلی خو سر دی دی زما په فتحه او کامیابی دیر خوشحاله شوی دی ده داشرط اینبی ؤچه کهزه ستا په نیولو کامیاب شوم نو ما ته به دواده کولو اجازه را کوی ..' اودغه دی داشرط پوره شو .....

زرینه دخپلې مورسره دچای راوړلو دپاره د باندې لاړه ..' سپین زیری

هم دخالد دپلار سره په خبرو بوخت شو او خالد راغی زما سره په کت کی کیناست ....

خالد زماسره دیری خبری وکړی ،د نورو سره چندان زما علاقه نه وه خو یوازی یوی خبری زه دیر وار خطا کړی وم او هغه د جنرال سیل (۱) پیغام ؤ .

مادځان سره داسوچ کاوه چه که وشی اوخالد یازرینه په دې راضی کړم چه ماپریږدی چه دشپی دشپی وتښتم .. ، حتی په دی فکر کښې هم وم چه که داکارونشو نودشپی به راپاځم ،تول کور به وسیزم اوپه خپله به وتښتم....

د بلی خوانه می زړه د خالد دپلار په انسانیت پاډه کاوه چه له ځان سره می دا فیصله لا دوخته کړې وه چه دوی به ضرور ما پریږدی ځکه که ورته وژارم اوپه پښو کی ورته ولوټیږم نودوی خوډیر ساده اوپه زړه نرم خلك دی خامخا به ما خوشی کړی .

په همدې امید به ماشپی سبا کولی .. ، دمرګ امید خوبه می زړه کی نه ساته لاکن داچه که زه دجنرال سیل پیغام پیښور ته ونه رسوم نوپه دی خبره به می زړه دویری دلاسه ولړزید ...

پیښور ته زما نه رسیدل اودسیل اومکر یګر تباهی یوځای اویوشان وو ، سیل ځان د ګلاب سنګ دلښکرو په امید تینګ کړی ء و او که په دی

---

(۱) جنرال سیل هغه څوك دی چه د جنګ په شروع کی د خپلو لښکر و سره ځان جلال آباد ته رسوی اوهغه ځای نیسي .

پوهوای چه‌دده پیغام ځای ته‌نه‌رسی نودا امید به‌ئی له‌زړه نه ویستلی وای په‌هغه کلا کی زماانه شپی وشوې ..' په‌دې‌موده کی‌زه‌ښه دپښتنوپه‌خوی بوی پوه شوم ..' دخالد اودهغه‌د کورنی کارونوته به‌ما په‌ډیر ځیراودقت سره کتل..' اوپه دغه‌ځای کښی زه‌دپښتنو پەحقیقت اوذاتی ښیګڼووړسیدم ..

دپښتون قام په‌باره کی‌ماته ډیرودوستانوڅه‌ویلی ؤ ..' زمونږپه‌تاریخونو کی هم‌ددې قام‌په‌باب‌ډیرڅه لیکل شوی‌ووخویوه هم‌په‌دی‌ډول چه‌نن‌ماپخپله ولیدل نه‌وم پوه کړی...

زمونږ مشهور تاریخی لیکوال‌سی' آر' لا(C. R. Low)(١) خو د پښتنو په‌باره کی‌ډیرڅه لیکلی‌دی‌مګرسره‌ددی‌هم‌زماداانه‌ورځنی معلومات دهغه دتول کتاب‌نه‌ښه اوجامع دی ... ماچه‌ددوی اخلاقی ښیګڼی او دذاتی شرافت اندازه ولیده‌نوځانی اوخپل نژادمی‌ددوی‌په‌مقابل کی‌بالکل‌لاندی‌اوتیټ‌ولید..

دمپلمه قدراو دښځی احترام .' دوستی‌اومحبت' انسانی‌مینه او وروری رحم اوشفقت‌چه‌ماپه‌دې قوم کی ولیدهغه‌می‌دد نیا په‌بل‌قوم کی‌ونشولیدلای..

اول ماځان ته‌وکتل ..' مایه حقیقت کی‌دهغه چاکره شپی کولې چه زه د هغوی دښمن وم لیکن کومه رویه اوپیش آمد چه‌به‌دهغه‌ځای خلکوزماسره کاوه‌بالکل دانشو ویل کیدای چه ګڼی‌زه‌په‌رښتیادهغوی دښمن یم ...

که مونږ ددغه قوم پرځای وای..' اودجنګ په‌حال کی مو کوم پښتون دوسلی سره نیو لی وای' نوبی‌پوښتنی به‌مووژلی وای ...

---

(١) داسړی دپښتنو دچنګونو په‌نامه یوکتاب لړی .

څانښت مهالؤ چه‌زر ینه دخپلې مرورسره پتنوس په‌لاس کوتی‌ته را ننو ته ..
اوله پیاله ئی‌دخالد خوسرته کښېوده اودوهمه ئې ماته را کړه.. خالد لاس
دوډۍ ته‌ونیو او وئی‌ویل :

مستر جانسن ! دې‌ته‌پراته وائی، اوهغه ته‌تور چای.. د لته خلك‌په دې
دواړو د برعادت دی .. تردی وخته پوری ماسره دا فکر نه‌ؤ پیدا شوی چه
زه گوندی له‌خالدخخه داتپوس و کړم چه‌ددې ځای نوم څه‌دی ، خو کله
چه‌خالد خبره رایاده کړه‌نودواړه می‌له‌هغه نه‌پوښتنه‌و کړه چه دا ځای څه
نو میږی ؟

خالد وخندل‌اومخ ئی زرینی ته‌واړاوه اوئی ویل :

زرینی خوری! مستر‌جانسن وائی ددې‌ځای نوم څه‌دی ..؟زرینی کټ کټ
وخندل اوپه خوږه ژبه‌ئې ماته وویل : ددې‌ځای‌نوم ... خیبردی ... زړه‌می
ولرزید .. دخیبردنوم‌په‌اوریدو هم‌خوشحاله اوهم‌خپه‌شوم.. داخبره څه دلیلونه
لری‌خو دلته ئې‌ویل بی‌فایدې دی .

مادخیبر نوم‌په‌پراوریدلی‌ؤ.. زه لادمکتب هلك‌ږم‌چه‌دخیبر له‌نامه سره آشنا‌وم
اودهغه داوسیدونکو دتاریخ سره‌می مینه‌درلوده ...

په‌مکتب کې‌مونږ هلکانو په‌خیبر دخطرناکی ځمکی نوم اینبی ؤ.. و ږو
هلکانو عجیبی اونابارو کیسی دخیبر په‌باره کی‌ویلی.. دتاریخ‌پروفیسر
یوه‌ورځ مونږ ته‌داسی کیسه و کړه‌چه‌ترننه ورځی پوری می‌په‌خوا‌وخاطر
کی ده ... هغه وویل :

لاشپه‌چه‌شی نودخیبر په‌خلورو ډډو کی داورلمبی بلی‌شی دالمبی‌تر سهاره پوری خیژی اولوخړی کوی.. که‌څوك ملاوتړی چه‌ددغو لمبوڅای‌ته‌ورشی نو اول بایدخپل نوم په‌زوره زوره‌دری‌واری‌ووائی ..' بیاورپسی‌چغه‌وکړی چه ای‌خیبره زه‌تاله دروڅم ... دلته‌نو که‌چیرته‌داسړی دهماغه څای ؤ یعنی دهماغه قوم‌اوهماغه‌څمکی ؤنوهغه اورمړشی اوبیابل شی او داد هغه څای دور تلو داجازی معنی لری ..

که‌دغه اور مړنشی نړ گو یاخیبر ا و داور بلوونکی نه‌غواړی چه هغه سړی ور شی دډی‌افسانی حقیقت اونه‌حقیقت ترنن‌ورځی پورې ماته په پوره اندازه‌نه‌دی معلوم ...' په‌دې‌نه‌یوهیږم چه‌دارښتیا ده که‌نه اونن‌چه په خپله‌په‌خیبر کی‌یم نو بیاهم په دې‌باره کښې‌فکر کوم .

چای‌وخورلای سو سپین زیرې‌ډڅای نه‌پاڅیده اودهغه‌سره‌یوڅای د خالد پلار مور اوزرینه اوخالد پاڅیدل ..' زه هم‌دخپل څای‌نه‌راجگ شوم زما په دې کار هغوی تول خوښاله‌شول ...

دسپین‌زیری داحترام دپاره مونږتول دکلا د دروازې پورې دهغه سره لاړو..' هلته‌سپین زیری‌تول رخصت کړل اودتګ په‌وخت کی‌ئې دزرینې په‌سرلاس کښبود چه‌په‌دی وجه‌زرینې‌څه‌وویل اوبیاتولو وخندل ...

بیرته‌چه پاس‌وختو'هر څوك په‌خپل کاربوخت شول.. خالدراغی اوزه ئې یوې‌بلی کوتی ته داستراحت دپاره‌بوتلم اوهلته‌ئی راته‌وویل.

مستړجانسن! سباته‌به دخیره زمادواده‌بند و بست وی‌البته‌به‌هم د نورو

خلـکو په‌شان په‌دې کار کې شریك اوسې هغه‌ورځ ما په‌خوب ټیره کړه.. نورو کار کاوه اوزمویدمو‌م زیاتی‌په هغه کلا کې چاز ما څارنه نه کوله.. یوازې د کلا نه‌د باندې به‌دشپې اودورځې ځوانان ولاړوو...

دوې‌ما تـه دشپې‌دوډۍ بیله‌راوړ له... زه‌نه پوهیدم‌چه ولی‌خوزۀ په دې کارخوشحا له‌شوم، ځکه‌هغوی‌سره‌ماسم خوراك نشو کولی..

په‌هغه‌شپه ماله‌خوب ندراته.. دلیل ئی‌هم داؤ چه یوخومی دورځی خوب کړی ؤ اوبل داچه‌دجنرال سپل‌دپیغام نه‌رسولو.زما‌فکر خراب کړی ؤ...

په کټ کښې ډډه په‌ډډه اوښتم... کـلـه‌به‌می‌چت ته کـتل او کـله به می دچت‌لاړی شمېرل... غم‌می‌دزړه نه‌چاپیرؤ...

نیمه‌شپه‌وه... دلری‌نه دسپوږمۍ‌لاړی آوازونه را تلل، چپه چوپتیا و...، هرڅوك په‌خپل‌خوب ویده‌وو...

طاقت‌می ونشو.. د کوټی نه‌دباندې‌راووتم‌اوهلته‌می‌په‌قدم وهلوشروع‌وکړه. دیرساعت په‌همدې شان گرځیدم.. کـلـه‌به‌می‌زړه کې وگرځیدل چه‌راشه و تښته خو بیا به‌می ولیدچه تښته‌امکان نلری‌ځکه‌د کلا نه بهرځوانان غوږ په آواز گرځی...

زه‌په همدې فـکر کې‌وم‌چه په تیاره کې‌می دلری نه یوسیوری ولید چه غلی‌غلی دزرینې‌دپلار کوټی نه‌ورنژدی کیږی.. اول‌شك‌من شوم خو بیامی خیال‌وکړچه ځه کوم خپل‌به‌ئې وی...

شامی وروا ړو له .. سیوری‌می دخیال اوخاطرځخه ووښت خودوه‌ملټه

پس یوځلی دزشوچه ځمکه اوآسمان ئې ولرزول، شاته می مخ واړوه.. هماغه سیوری می ولیدچه منډی وهي...

نورځه پوه نه شوم خوبی اختیاره ماهم په دغه سیوری پسی منډه واخسته، په کلا کی هم گربربیدا شو، خالد زرینه دغه موراونور تول راپاځیدل،...

نورپه خپل غم کی شول او دهیڅ پام هغه سیوری ته نه ؤ، خویوازی ماځان په دوبری چتگی هغه ته ورساوه او دهغه سره ونښتم.. تما نچه می دهغه دلاس نه واخسته او په ځمکه موسره پرزول وکړل...

وسه مې پرې ونه رسیده نویواری می خالد ته په چیغو بنا وکړه.. خالده په منډه ځان را ورساوه اوزما کومکی شو.. په یوه شیبه کی مودقاتل لاسونه په شا یوری وتړل او رامخکی موکړ...

مونږلا یوځو قدمه لری ووچه ژړا اوانګولا موتر غوږ شوه.. په مطلب پوره نه وم پوه شوی لیکن چه را نژدې شوم او دزرینی فریاد ونه می ولیدل چه دپلار دکوتی په مخکښې ئې کول نو په مقصد پوه شوم...

دغه سړی چه مونږ ونیوده دزرینی پلار وژلی ؤ.

قاتل څوك ؤ؟

نوررانه دور څو تاریخ نه‌ؤ معلوم .. نه‌پوهیدم چه کوم تاریخ کومه ورځ ده.. یوازې همدومره پوهیدم چه په هغه کلا کې زما نهمه کلسمه ورځ وه...

دوه درې ورځې مخکې زه په همدې ځای کې د کپتان اندرسن د لور دور کیدو نه‌خبرشوم .. سبا نه‌می‌واوریدل چه هغه دپښتنو لاس ته ورغلی ده....

داندرسن لور درې څلور میاشتې دیوپښتون په کور کې وه(۱) او کپتان غریب به‌شپه اوورځ دهغې په‌غم کې اوښکې تویولې ....

سره ددې چه د کپتان اندرسن دلورسره د کپتان «بایدBayd» ور کوتې څوی هم دپښتنولاس ته‌ورغلی‌ؤ خوزه دهغه نه‌خبر نه‌وم کپتان باید زما دهلکتوب ملګری‌ؤ .. سبځه‌ئې زماوریره‌وه.. او دځوی په ور کیدو ئې ډیر غمجن شوم....

ددې خبرو نه به‌زه کلله کلله خالد خبرولم .. چه څه به شوی و و نو رابه غې اوهغه به‌ئې راته وویل مستر جانسن نن پښتنو غازیانو دافتح و کړه او یائې پلانکې ځای له دښمن څخه لاندې کړ....

شپې ورځې په‌همدې شان تیریدې .. دخپګان دلاسه‌می هډوکې وچ شول نورخومې دجنرال سیل دپیغام له‌رسولو نه تمه پرې کړې وه لیکن یوازې دځان دخلاصولو فکر راسره ؤ... ماویل چه‌اوس زه په‌خپله د ددې کلا

(۱) جنرال ټ. ر په‌خپل کتاب کې لیکی چه دا پښتون نواب محمدزمان خان نومیده .

خخه‌ژوندي ووزم‌پيغام او ګلاب سنګ دي بلاووهي....

ترهغه ورځې پورې خالد ډير اميد وار کړي‌وم خودبده شامته‌چه‌دخالد پلار ووژل‌شو نو دا اميدمې‌هم قطع‌شو.

اګر چه دزرينې‌دپلار مرګ زمادپاره څه‌نه‌څه ګټه راورسوله‌خوتاوان ئې هم‌را ورساوه ....

ګټه خوداوه چه‌دقاتل په نيو لوزه دهغه کلي‌دخلکواوپه‌ټپره دزرينې اوخالد دکورنۍ په منځ کې دقدر ورشوم.. زمادا انسانيت ئې‌وستايه.. کـه چيرې مادخـالددپلار وژونکې نه‌واى‌نيولى نوخداى‌ته معلومه ده چه‌په دې کور او کلي کې به‌څه حـال ؤ..'....

هرڅه چه‌ؤخوپس له‌هغه به‌لږ شانتې‌په‌راحت‌او آزاد ګرځيدم ' دپښتنوپه ډله کې به‌کيناستم اوپاڅيدم .. په مړې ژوندې کښې‌مې ګډون کـاوه او چه کـله ئې دزرينې‌دپلار جنازه هديرې ته ورله نوزه‌هم‌ورسره روان شوم .....

هلته په هديره کې مې دهغوى دمړې دښخولو کـارولېده .. مخکې له ښخو لو څخه مې دمذهبې مشر (ملا) دقرآن ويلو ته‌غوږ کيښود اوپه هماغه ځاى کې ؤ چه د قرآن قدر اواهميت‌ماته‌معلوم‌شو ....

ما خوا وريد لى وو اوحتى چه دځينو لويو عالمانو په کتابونو کې مې‌لوستى وو چه ددنيا اوبشريت ستر او لوى کتاب قرآن دي خو د پلار اولېدل ډير فرق اوتوپيرسره‌لري.....

PROPERTY OF ACKU 5638

مادتولونه اول قرآن یەخپل کور کی لو ستیؤ ا و هغەما ته خپل پلا ر را کړی ؤ.. دا کتاب دروبرتە کښت (۱) ترجمەوەچەپەلاتینیئې کړی و ه دهغه نه وروسته چەمکتب تەلارو ، هلتەئې مونږتەدنورو د ینی کتا بو نو پەلړ کی قرآن هم را کړاودا کتابزما دپلاردرا کړی کتاب پەشان نەؤ.. دا کتاب بل سړی یعنی سایل Ceosalee پەانګلیسیژ بە کړ ځولیؤ اوداترجمه لەهغی بلی ترجمی څخه بنەوه. دقرآن دلوستو سره زما داسلام ددین اودقرآن سره عجبه مینه پیداشوه.. ،په هرځای کی چه به د قر آن اوداسلام په باره کی کومه کرښەلیکل شوی وه هغه بەما له نظرڅخه تیرو له..، په دغەډول به می تل د« کوسین دپرسوال » (۲) کتابونه لوستل او په هغو کی می داسلام او قر آن په بار ه کی د یر څه پیدا کو ل ..... یو ه ورځ چەله کلیسا څخه راوتلم نوهلته یودو ست ماته د ژا ن و لفګانګ ګوئیتی (۳) دالمان دنامتو فیلسوف اوشاعر یو کتاب را کړچه په هغه کی دقرآن په باب بنەبنه تکی لیکل شوی وو...

---

(۱) دې سړی قرآن عظیم الشان په ۱۱۴۳ کی ترجمه کړی دی.

(۲) داسړی یومعروف مستشرق دی چەداسلام په باره کی دیر کتابونه لاری په ۱۷۵۹ کی پیداشوی اوپه ۱۸۳۵ کی مړشوی دی.

(۳) دجرمنی معروف فیلسوف اوشاعردی چەپه کال ۱۷۴۹ زیږیدلی اوپه ۱۸۳۲ کی مړ شوی

مړی ښځ شوا و خلك دهد یوی نه ببرته راو گرځیدل، خلکو به خالد ته و اد
ور کړا و ه اودهغه سره به ئې غم شریکی کوله دا چه بیا څه وشو ل ، څنگه
خیرا تو نه اودغا گا نی وشوې زه و رسره څه کړا نلرم یوازی هغه څه وین غواړم
چه هغه زما او زما په ژوند پوری اړه لری .

ما زیگر مهال ؤچه خالد، له نورو خلکو سره ننووت او قاتل ئې مخکی کړ .. ،
زهم په هغو پسی ر وان شوم .. ،

د کلا په مخ کی ډیولوی میدان ؤچه په هغه کی زر گو نه خ لك را تول شوی
وو. ، کله چه خالد دقاتل سره هغه ځای ته ورور سید نو په هغه ځا ی کی
یوه عجیبه شا نتی خامو شی شوه .. ، قاتل دخلکو په مخ کی کیناست او مخ
ئې سپین زیرو ته و گر ځاوه .

دقاتل په څنگ کی یو په عمر پوخ سړی چه می ورېجی ز یره ئی وه ناست ؤ
چه قاتل کیناست نو هغه سړی پاڅید او مخ ئې خلکو ته راوړا وه . . ، بیا ئې په
دروند آواز اوروښانه تنده وویل .

دا ځلمي (لاس ئې قاتل ته ونیو) تور گیل، زما مشر ځوی د ی ...

زه او دخالد پلار سره تر بوره ان یو، زمونږ په منځ کی د کلونو کلونو دوښمنی
او گونډی و ه .. ، په اصل کښې زمونږ او دخالد د کور نیه تر بگنې په د یر

بوجزوی شی شروع شوی وه .. واقعه داوه چه کومه ورځ ز هو نبز نو کړ دخالد دوی په شنو کی پسو نه پریښی وه هغه نادانه خبر نه ؤ چه ز ما او دخالد پلار طبیعتو نه سره خړ دی خوخیر کومه شپبه لاپسو نو په شنو کی نه وه تیز ه کړ ی چه دخالد پلار دخپلو سړو سره پری را برابر شو چه وئې کتل چه په پټی کښی ئی زما پسونه لګیا دی نو دیر په قهر شو او زما نو کرغیرب ئې دومره وواهه چه دراتلو نه ئی وویست .

د اخبره خو دلته تیره شوه خوشپی ورځی وروسته دخالد دوی مزدورژرندی ته دانی ورلې اوزما په پوله تیریده .. چه می ولیده نو دواره می بیل جګ کړاو په هغه پسی روان شوم چه ورو رسیدم نو یو خو بیله می شه وواهه ... همداوره خبره زمونږ په منځ کښې سره لویه شوه لویوه قومی شخړه تړې چوره شوه او د کلونو کلونو دښمنان شوو تردې چه دې اندازی ته ورسیدو چه په دواړو خواو کی مړی وشول ترخو چه څوورځی مخکی ماخپل ځوی تور ګل دجنګ میدان ته ولیږه چه دوطن دساتنی په جګړه کښی برخه واخلی.

دلته زما یوه ویره شانته خبره له یاده ووتله اوهغه دا ده چه تور ګل دخالد په خورزرینې مین او دهغی له غمه چورلیونی ؤ لیکن تاسو ته خودا معلومه ده چه ددو وتربورانو بنادی ګرانه خبره ده نو ځکه ما دهغه دپاره څه ونشو کړای... او یوازی دا یوشرط می دخالد پلار سره کینبود چه که تور ګل د کوم کافر انسر سره راوړ نو زرینه یه را کړی.....

زرينه‌اومورئی په‌دی‌شرط راځی‌ؤوخويوازی‌خالداوپلارئی دا شرط نه مانه
اوويلئی‌چه‌تور گـل‌اوزرينه سره‌نه‌جوړيزي.....
خير خوتور گـل لارجنـگ ته‌اوزه په کور کی پاته شو م ....
بيگادهغه دولسمه شپه وه چه‌له کورنه وتلی‌ؤ ..' په‌خيال‌او خا طر کی
موهم نه‌وه چه‌تو ر گل‌به جنگ پريږدی اودلته‌به را ځی .....
اول‌خوزه دتور گـل په‌دې‌شان‌را تـگ خوشـا له‌نه وم.. ' ځکه هغه ز ما
ځوی‌دی‌اوبايد چه‌له‌ميدان‌څخه نه‌وای‌را گرځيدلای‌،بله‌داچه‌بې‌له کـا ميابی
څخه‌ئې‌تش‌لاس‌بير ته‌را تـگ‌هم‌لويه نامردی‌ده‌دريمه‌داچه‌دی‌دجنگ له‌ميدا ن
څخه راغی اوبودير بد کـار ئې‌له‌لاسه وشواودزرينی پلا رئې‌وواژه گرا نو
کـليوالوزه‌په‌دې‌قانع‌يم چه‌په‌پښتنو کی‌داسی‌څوك نه‌پيدا کيږی‌چه‌هغه‌دو طن
دبچاوله‌جنگ‌څخه‌خپل‌شخصی انتـقا م‌اخستل‌وړاندی و گـڼی‌،مگر که‌پيداشی
نوبيا د هغه ژوند ختمول‌پکار دی .

زه‌پښتون یم اوداخبري دپښتنو په منځ کی کوم ، زه‌وایم چه دداسی ځلمي ژوندي پرپښودل دقوم دپاره بی ننګی ده. ، که‌ځلمي پښتون وی نو داسی کاربه نه کوي او که‌ئي و کړنوځان باید ووژنی ..'....

تور ګل نن‌دا کار .. ' دابی غیرتی کړی‌ده ځان باید مړ کړي او که په خپله زړه و نه کړي زه‌دا زړه کوم او که چیرته زه تور ګل ژوندی پریښږدم موري نشي پریښودی او که‌موري حرکت و نه کړي «ښاپیرۍ» خو ر ئي په هغه دتملانخی‌ډزیا دتوري ګوزار کوی ....

پښتنو ! تور ګل چه‌نن دابد کا رو کړ سبا بل کار هم کوی .. ' د وطن خدمت نه کول اودهغه په‌لاره کی‌سر نه ور کول ، دوطن سره خیا نت شمیر ل کیږی اودوطن‌خائن خوپه‌پښتو اودین کی‌دمر ګ ور دی ....

تور ګل دوطن خدمت نه‌دی کړی ، دهغه په لاره کی‌ئي سردریغ کړ ی دی اوددی سزاء زماپه نزد اودهر پښتون په‌نزد..... مر ګ د ی ...

دتور ګل پلار چه داخبري کولی نو په هغه میدان کی داسی چو پتیاوه چه تا به وبل دژوند وهدیره ده .... نه‌څوك خوځیدل او نه چا غږ کاوه .. ' تولو دتور ګل دپلارخولي ته کتل اوچه دمر ګ تکی دهغه له‌خولي‌راووت تولو تور ګل ته‌و کتل ....

کلاره کلاری وه.. ' دخالد خورا ومورهم د نورو پښتنو میر منو سره په هغه‌ډله کی ناستي وی . په‌دي وخت کی‌خالد ' زرینه او مورئي دری واړه ځای نه‌رایاځیدل اودري‌واړو همدایوه‌خبره و کړه چه :

مونږ دخپل پلار اومیړه دمرګ نه‌تیر یو... مو نږ خپل حق بښلی د ی دلته نورچې شول اویوازې‌زرینی‌ددوی مطلب ښکاره کړ زرینی وویل چه‌مونږ په‌تور ګل باندې چه دوطن له‌جګړې څخه راتښتیدلی دی دمرګ سزا لګوو .....

زرینه کیناسته ..' تور ګل‌سرتیټ نیولی‌ؤ.' په‌تندی‌ئې‌دمرګ‌خولې را ژوانې وې .. ' په‌دې منځ کی دتور ګل پلار پاځید تمانچه‌ئې د ځوی مخی ته‌ونیو له .. ' تور ګل ولړزیده .. ' پلار ته‌ئې وکتل او بیا ئې د لی ته نظر واچاوه .. ' رنګ‌ئې تک ژیړشوی‌ؤ ' اوژامی ئې لړزیدلی .

یوه‌ښه‌شیبه‌تیره‌شوه خو تور ګل لاتمانچی ته لاس نه‌ؤ اوزد کړی پلار ئې هماغه شان تمانچه په‌لاس ولاړؤ .' اوچه وئې لیدل چه تو ر ګل یکښی ټال کوی نوپه زوره‌ئې وویل پښتون‌ئی ؟

تور ګل بیاولړزیده ستر ګی‌ئې دوینوپه‌شان سرې‌شوی‌او بیائی‌په‌هماغه جګ آواز وویل : هوپښتون یم ...

داتکی‌ئې لادخوله څخه نه‌ؤ راوتلی چه‌سم دستی ئې‌تمانچه د پلار د لاسه واخسته اود ز شو ....

تور ګل په‌خپل مرګ خپله پښتو ثابته کړه .. ' پلارئې‌هم‌سر لوډې کړاو ...

د کیپتان اندرسن لور

ماسخوتن د ی نری باران وریزي . زه دخالد سره په کار بوخت یم..
سباته دخالد واده دی .. هرڅه تیاردي -

زه اوس په هغه کلي کی دیوپښتون په څېر شپی ورځی تیروم .. یوازی
دژبی خبره ده چه زه ئي په سختی اخته کړی یم .. تراوسه پوری لامایوتکی
پښتونه وه زده کړی یوازی خالدؤ چه زما سره به ئی په دي لاره کی مرسته
کوله اوهرڅه چه به په هغه ځای کی کیدل هغه به ئي تکی په تکی ماته وویل
لکه چه دنور کل دمرګ خبرئي تولی ماته ترجمه کړي اوهرڅه چه په هغه
میدان کی تیر شوي وو په هغوئي زه ښه په وه کړم ...

خالدنن ډیر خوشحاله دی ... خاندي ، د زرینی او خپلی مورسره تو کی
تکالی کوی او کله کله ماسره هم خوش طبعی کوی ..

ماچه سباته دخالد دواده کارونه ولیدل، حیران پاتی شو.. داقوم راته
یوعجیب قوم ښکاره شو.. ددوی وروری او دوستی راته حقیقی انسانی دوستی ښکاره
شوه. نرواوښځو په ډیر اخلاص اوصاف زړه په هغه ځای کی خدمت کاوه
خپل او پردی پکی پوره پوره نه معلومیدل.

زه دواده تول شیان نه شم ویلی یوازی دمسافر دراتګ حال وایم چه زما
ددلچسپی اوشوق وزخبره ده.

نن مادخالد سره دځان دخلاصون اودخیږنه زما دتګ په باره کی

خبرې اومرکه وکړه ، هغه وویل چه فقط دوه ورځې پس به ته ددې کلا نه ووزې او دا هغه ورځ ده چه پښتانه په یوه لویه حمله شروع کوی ....

نن «جمال» راغې اومونږ ته ئې په خیبر کی د« کرنیل وایلد » شکست بیان کړ جمال وویل چه دجنوری په ۱۵ و ۱۶ کرنیل وایلد په عای مسجد کی ماتی وکړه اوددې ماتی خبره «مکشن» (۱) ته هم ورسیده... بیائی وویل.

-مستر جانسن ! ته خبر نه ئې چه په جلال آباد کی ستاملکر ې مکر یکر هم کلا بند شوی دی ...

ددې خبرو په اوریدو می غوږنی ځیږ شو... دخپل قوم تباهی راته یاده شوه پوه شوم چه نور دپښتنو په مقابل کی مقاومت کول عبث کار اوخام فکر دی ...

خالد ماته داهم وویل چه جمال دوایلد اومکشن سره دخیل قوم اپر یدو اومومند وجنګ چه احمدخان اوسعادت خان ئې مشران وو دیر نیک مرغه وبا له اوهغه ئی دتولو انګریزانو دپاره شکست حساب کړ ...

نورمی څه کړی وای...؟ نور خو دجنرال سیل پیغام ته حاجت نه ؤ پا تی خالد په دې وخت کښې وخندل اووئی ویل .

- مستر جانسن! زیری می دربا ندی.. ته باید په دې زیری دیر خو شحاله شی... د کیپتان اندرسن لورپیدا شوه...

دوې خبری په اوریدو خوشحا له شوم ... په ستر گو کښې می او ښکې وگرځیدی مخ می له خالد څخه وکړ ځاوه چه ومی نه گو ر ی لیکن هغه

(۱) مکشن هغه څوک دی چه په پښتو کی د انګریزانو سپاسی نماینده ؤ.

وليدم بيائي وخندل اووئي‌ويل.

ـ هههه گوره مستر جانسن چه مارښتيا ويلي‌ووچه ته‌خامخا يه دي زيري خوشحاليزي ... گوره چه‌دډيري خوشحالي څخه دي ... په ستر گو کښې او ښکي راغلي.

خالد خو ښتيا ويل، خودومره خبره وه‌چه‌ماداندرسن دلوردپا ره‌نه خندل بلکه ددي‌دپاره مې‌خوشحالي کوله گوندې زمادوريرې‌خوي‌يعنې‌د کيپتان (بايد) خوي به‌هم پيداشوي وي، نودخالد نه مې‌تپوس وکړ.

ـ خالده .. ، ته ماپوره پوي کړه چه‌خبره څنگه‌ده .. ، داخبرې راته ډيرې مهمې ښکاري .. ، ماوتا دپاره پوشان‌دې يومغلوبيزې اوبل غلبه کوې .. ، پښتنو ته‌خپل ملك پاتې کيږې او .... خالدوخندل اروئي ويل:

ـ جمال‌وايې چه‌داندرسن څلور کلنه‌لورد کيپتان بايددخوي سره دپښتنو لاس ته ورغلي‌وو، قصه داسې وه‌چه‌ستاس لښکرې‌چه له کابل نه‌را وتلې نو په دريمه ورځ‌ئي په‌ليواره کښې (۱) دپښتنوسره سخته‌نښته‌وشوه چه‌په آخر کې دغو لښکرو له‌ډيرې ويرې څخه اسباب، وسله، جبه‌خانه‌ښځې‌نر او واړه ټول پريښودل‌اودوی په‌خپله راوتښتېدل دغه دو اړه‌واړه هلته پاتې‌شوي وو، څو مياشتې‌پښتنوسا تلي‌وو بياځوورځې‌مخکې دجنورې په ۱۶ کابل‌ته‌را وستل شول.... (۲) ددي‌قصې نه وروسته زه‌په‌مطلب پوه‌شوم ددي واقعې‌څخه خو زه

---

(۱) داقصه په‌خوا کابل کښې‌شوې‌ده.

(۲) داجنې‌دمې‌په (۱۰) چه‌د جنرال بالك لښکري‌راورسيدي انگريزانو ته‌وسپارل‌شوه.

خبروم خوبل شانتی... ماچه څه اوریدلی وو اوڅه چـه خالد ماته وو یـل په دې کښې سره د هر فرق موجود ؤ، پس له دینه به شپه اوورځ په همدې غم کی و م چه په څه قسم دې ښښتنو د عمومی حملی خبر خپل مرکز ته ورسوم..' نوره رانه لاره چاره ور که وه..' په هېڅ نه یوهېدم..' په دې ملك کی چه کوم فلا کتونه او کړ اونه په ما اوزما په لښکرو راغلی وو په انسانی اوبشری تاریخ کی به لږ لیدل شوی وی ....

نورمی له ځان څخه هم ترهه وشوه د خالد او نورو کیلوالو سره می هم په زړه کی ورانه شوه...' هغوی ته به می دیو دښمن په ستر که ګـتل...' و خت اوموقع به می لټوله چه کله به ټپښتی وارپیدا کړم .

بیر ته خومی جلال آباد ته تـګ ممکن نه ؤ یوازی همدا می کولی شو چه له خیبر څخه چیر ته بل کوم ځای ته ورسم او که وشی چه ځان جمرود ته وباسم...

ما ته خالد وویل چه په خیبر کی پښتو د کرنیل وایلد لښکری تباه کړی په دې وخت کښې می له ځان سره دا فکر کاوه چه که له خیبر نه ژوندی جمرود ته ورسیدم نو هله به د ځان او جانان غم وخورم ....

باران چه پرون شپه شروع شوی هماغه شان وربده زه په خپله کوټه کی ناست وم چه زرینه راغله او ماته ئې په لاس اشاره وکړه چه راو ځه ....

زرینی شړې په لاس کی نیولی وه او هغه ئې ماته را کړه ..'

چه راووتم زرینې برابر د خالد کوټې ته بوتلم ..' هلته خالد په کټ کې ناست ؤ چه زه ئې ولیدم نو ووئې خندل او وئی ویل :

مستر جانس ! ته‌مادې دپاره راوغوښتې چه‌ستا یویل قومی تاته دروښیم دا میجر بونت دی.. ،غریب په‌پته‌پته د کابل نه‌ځان رارسولی دی....

لږه شیبه وروسته یوه ځلمی بونت کوتی ته راووست.. ،چه‌زه‌ئی ولیدم نو یو ځلی ئی رامنډه کړه اوراترغاړی ووت.. ، دی‌بدقسمته یه‌زور ه زوره ژړل اوویل ئې :

ـ کپتان جانسن! دخدای‌دپاره ماخلاص کړه .. ،ماځه‌بدو کړل چه زه د اکبر خان خان پسی لغمان ته لاړم په زوره می ځان په بلا اخته کړ ما گومان کړی‌وچه گوندی زه به اکبرخان مړ کړم (۱) اود همدی دپاره په‌پته پته ورپسی وم .....

جنرال سیل اومکریگرچه‌زه په‌جلال آباد کی‌ولیدم نوبل کارئې رامخکی کړاوهغه داوچه‌زه‌ځان جارج کلرك ته ورسوم‌اوهغه ته‌داخطونه‌ور کړم. (۲)

کیپتان جانسن! هلته آوازه وه چه پښتنو جنرال اویتابیل وژلی‌دی (۳) نه پوهیږم چه‌ته‌څنګه دپښتنو لاس ته ورغلې . . .؟

ماهم بونت ته‌خپله‌قصه‌و کړه.. ، حیران‌پاتی‌شو کومی‌خبری‌چه‌ماورته دپښتنو په باب وکړی هغه‌ئې په ډیر تعجب سره واوریدې‌مابونت ته‌داهم‌وویل چه‌سبا ته دپښتنو لویه‌حمله‌ده.. ،خیال نه کوم که کوم آس تړې هم ژوندی

---

(۱) غازی سردار محمد اکبر خان په‌دې وخت کی دفرنګی لـه‌یر غملو سره دلغمان په تیر کړوکښې ؤ

(۲) اویتابیل دپښور حکمران ؤ

(۳) ،کلرك دپښور کور فر نائب ؤه

پاتی‌شی..' بیامی‌ورته وویل چه‌ځان نیښتی ته‌جوړ کړه..' بیګا ته به په هر قسم‌چه کښزی ددې ځای‌څخه‌تښتو... که‌ونه‌تښتو مونږهم‌دځانه‌سره بیائې..' خدای‌خبر چه بیابه څه راباندی کوی .....

ما خبری کولی اوشاوخوابه‌می کتل‌ځکه‌وپریښدم چه‌خالد چیر ته زمونږ خبری‌وانه‌وری- دی‌دبونټ‌لـه‌راننوتلوڅخه‌وروسته دزرینی سره‌له کوتې څخه وتلی‌ؤ. جرګه مرکه موسره‌د یره‌وکړه..' بونټ له جیب څخه د سمال‌داوویست اوخاوری‌دوری‌ئی‌له‌مخ نه‌پاکې کړی... کله‌چه‌ئې بیرته د سمال په جیب کې‌اینښود نویوورکی کاغذ ئې له واسکټ‌څخه راولویدل..' زه تیټ‌شوم او هغه می راواخست..' دبونټ فکربل خواته‌ؤ ما په کلاره کاغذ پرانیت‌او داڅرکرښی‌مې‌تړې‌ولوستی :

« میجر بونټ !ماغوښتل چه ستا انتقام‌له کیپتان اند رسن څخه واخلم اودهغه لور په جنګ کې ووژنم خو د بد قسمتی څخه هغه رانه پښتنو خلاصه کړه.'' خیرته پروامه کوه بل‌واری‌به رانه نه‌خلاصیږی ' ستا دلورد تور په‌بدل کې مادو ختې داندرسن‌لور په‌مرګ شمیرلی ده....

ستا محترم ویلیام»

ماچه خط خلاص کړ نو په همدې‌وخت کې دبونټ مخ ماته شو..' خطائی زماپه‌لاس کې‌اولید..' له‌ویرې‌څخه‌ولړزید..' وارخطاشو' دډیرقهر دلاسه‌ئې غاښونه وکړچیدل.....

لاس‌ئې راوزد کړاو کاغذئې‌زماله لاس‌څخه واخست‌بیائې‌په‌غلطو اوبی

ربطه الفاظوماته وويل :

«دويليام، كم بخت خط ؤ..، هغه ما سره توكی كړی وې ..، اوس اوس هغه غريب دپښتنو په‌جنګ کی‌مړشو . . . . . .

ماپه دې وخت کښی چه په‌ډير غورمی بونټ ته کتل‌هغه ته وويل :

ميجر بونټ !ته که ځان پټ کړی هم زه دې پيژنم ..،

زتالهٔ هغه وخت څخه پيژنم چه‌دجا سوسی‌ډادا ری‌غړی وی ..،

زه خبريم چه‌ستاله کوم وخت څخه د کپيتان‌اندرسن‌سره دښمنی ده د کپيتان دځوی‌ډاويد سره ستاد لورتوربد ل ماته ښه معلوم دی ..، پوهيږم چه هغه کينه لا تراوسه پوری ستا په زړه کی‌ده ،اودهمدې کبله دې

غوښتل‌چه دهغه‌غريب لورووژنې اوبيابهانه وکړی‌چه پښتنو وژلی‌ده.

ماچه‌داخبرې وکړې‌نوميجر بونټ لاپسی‌ځان بايلود..، رنګ‌ئې والوت پښی‌اولاسونه ئی ولړزيده..، زه‌ئی پر ينښودم لاږد کوتی‌نه دباندی‌ووت.

بونټ‌لاد کوتی څخه‌وتلی نه‌وچه خالدرا ننووت..، مخ ئې ماته راواړه وه اووئې ويل.

مسټرجانسن! زماخيال دی‌تاسی داندرسن دلورپه باره کی خبرې کولی هغه‌خو بيرته پښتنو کيتپان اندرسن ته‌ووسپار له کنه‌نو...

مادرته بونټ وښودا و ومی‌ويل:

دی‌بی غيرته‌غوښتل چه‌هغه ووژنی..، داسړی‌هغه‌څوك دی‌چه‌دا کبړ خان په‌مرګ پسی‌ئې‌ملاترلی‌وه. خالدوويل:

هرڅه‌چه‌دی، اجل‌دې‌ځای ته‌راوو ست.. ، څه‌چه‌ئې کړی‌دی دهغو تو لو سزابه ورمومی... ګناهکار اوبیګناه په‌ژوند کی یوشان وی مرګ د هغوی فرق کوی..،

زمونږخبری په‌همدې ځای‌خلاصی‌شوی.. ، بونټ او خالد لاړل اوزه هم خپلی کوټی‌ته ورغلم.. ، خویوازی داندرسن دلورفکر راسره‌ؤ.

دزندان‌شپی

دخا لدد کور او کلی نه‌نورەها دتیښتی ملا تړلی وه.. ، هرڅه می دځان سره‌سنجولی‌وو... یوازې‌چه زه‌د کلاددروازی نه‌روغ وتلی‌وای‌نودبل‌شی نه می‌چندان ویره نه‌وه...

یوزړه‌می ویل‌چه راشه‌اول دابونټ مرکړه اوبیا ور پسی چه‌هر چیر ی لاډې‌نوزړه به‌دې‌نه خوږیږی.. ، نیت‌خومی داؤخودا کار راته‌لږشانتی سخت ښکاریده...

بیامی‌دځان سره‌ویل چه‌څه‌څه‌بلاورپسی کوی.. ، ستائی داندرسن دلور سره‌څه ...بونټ پوهیږی اواندرسن ...

ته‌دې‌خپل کار کوه.. ، نن سبابته په کوم‌بل غضب اخته شې بیا به‌ځان خلاصوې، نه‌به‌خلاصیږی نورمی‌په‌خیبر اودخالد دوی‌په کلا کښې هیڅ شی نه‌یادیده، یوازی دزرین ښکلی بشرەبه‌می کله‌را په‌زړه شوه‌اوزړه به می نری‌نری دردکاوه.

اکثروخت به‌می‌له‌ځان سره‌دافیصله کوله‌چه را شه ملمسا ن‌شه .. ، په

همدې خیبر کی، دخالددوی په کلا کی استوګنه غوره کړه پښتانه خو دیر سوچه مسلمانان دی،وضرور چهزه مسلمان شم اوبیا زر ینه پیغله دخالد نه وغواړم هغه به ماته نه وانهوائی..'.

په همدې سوچ کی رابانديشپه شوه..' ددوډی خوړلو نه وروسته چه ټول ویدهشول نوتپښتی اوفرار بندوبست می وکړ..' یوهجوړه کالی چه په هماغه مانښام می دخالدله صندوق څخه پټ کړی ووهغه می واغوستل ..' پګړۍ می ووهله اویوسپین څادر می هم په اوږه واچاوه،ځان می ښه تیار کړه،دلری نه که چالیدلی وی نو ګومان ئې کاوه چه کوم پښتون ځلمی دی..' کړهوړه می په ظاهر کی ټول دیو پښتون په شان ووچه ښه تیار شوم چه نو له ځای نه راپاڅید م په کلاره کلاره می دروازه پرانسته اوسر می رابهر کړ..' شاو خوا می وکټل اوبیارا وو تم ...

په ویره ویره می د کلا دروازی ته ځان راورساوه،د کلادروازه می پرانسته او دباندی راووتم.هغه ځوانان چه پخوا به ئې د کلاپه مخکی ګزمه وهله نن شپه لږ شانتی لری دنورو خلکو سره په خبرو بوخت وو..' پښتانه ډلی ډلی راتو لیدل اود سبادپاره ئې ځان... سمبالاوه یوزړه می ویل راشه مه ځه خوبیا می ویل چه اوس خود کلانه هم راوتلای ئې نوبیاځله زړه ته ټکی اچوی... ځان ته می غیرت واچاوه..' په تیته تیته راروان شوم..' غونی می دویړی نه زینږۍ..' ماویل چه دغه دي وئې لیدې اودغه دی اوس ئې دباندې آواز وکړه..

نبایسته نبه شانتی لاره‌می په‌همدی‌شان ووهله..' کـله به‌څملا ستم او کـله به‌روان‌شوم..' دډیری‌ستومانتیا نه‌می‌سا گډه‌وډه‌وه..' خوځان رابا ندی گران ؤ او بی‌دځان دخلاصیدو نه نورپه‌هیڅ شی‌پسی نه گرځیدم...

شپه لانبه پخه‌نه‌وه چه‌زه دهغی علاقی‌نه‌راووتم..' دخالددوی دکور کلی نه‌دومره لیری شوی‌وم چه‌دسپو دغپا آوازهم‌نه‌اوربدل کیده' نورهیڅ دویری څه پروانه وه ..' پس له ډیر مزل نه‌یوځای ته‌چه دشمشاد ډبری‌ونی پکښې وی‌راورسیدم..' نه‌پوهیزم دا کوم‌ځای‌ؤ یوازی جـگ‌جـگ غرونه او گنې ونی وې..' یونیم کور پـکی ښـکاریده ..' نورد کـلی نوم نښان نه ؤ... ډیره لارمی وهلی‌وه..' په‌پښو کی می‌دتـگ توان‌اوطاقت نه‌ؤ ..' دیوې غټی تیږی څنـگ ته‌چه نری‌نری‌اوبه‌ئې پـه‌خوا کی‌روانی‌وې کیناستم..' لوزی‌رابا ندی زور کړی ؤ په کپ ډوډی‌ پسې می‌ستر گی سپینی ختلی‌وی ...

اودډیرې ناامیدی‌ اودردنه‌ژړا را تلله ...

دخوراك هیڅ شی‌می‌پیدا نـکړی شو نوله نا کامه می‌ځان خوب ته جوړ کړ..' په‌وخت نبه‌نه پوهیدم ' کلهبه راته سرمانبام معلوم شو او کلله به می خیال وکړچه نیمه شپه‌ده ....

سم‌می لاسرپه تیږه‌نه ؤ اینبی چه‌سپدې داغ‌شوې ..' بیامی‌په زړه کښې ویره پیدا شوه..' ویل‌می‌چه اوس به خالد یا زرینه زما دلیدو د پاره‌ز ما دکوتی دروازه نیم کښو کړې او چه وگورې چه ځای شیته او جو لا نشته

نوبیا خوبه وربا ندی بده ورځ جوړه شی .

دځان سره مې فـکر کاوه چه‌خدای ته‌معلومه ده‌چه خالد اوزر ینه ا و میجر بونټ به‌زما په‌تیښته څومره‌خفه شوې‌وی کلی کوربه راپسی و لټوی..' لری نژدی به تپوس و کړی چه‌داشان سړی چاندی لیدلی ما چرتونه و هل اولمر شاعت په‌ساعت راجـگیده..' نورمی‌هرڅه په‌ښه‌شان لیدی شول په کو م ځای کی چه زه ناست وم.' دهغه چپی ډډې ته‌دتورو تیلو یوه گانۍ‌وه ...

نوپه کلاره دځای نه‌را پاڅیدم اوورانی گـانۍ ته ورننو تم ...

نورڅـه په هغـه ځـاې کـی نه‌ویوازې یـو ه ز ړ ه کـته‌یوڅو تیز ی او یو کټ هلته پروت‌ؤ دخوب‌دلاسه می‌نوری‌ستر گی پټی‌وی..'سرمی‌ر اته د و مر ه د ر و ند ښکـا ریـد ه چه ماو یل کوم دوه منی پیټی می په سر اینښی دی ....

پا څید م‌ا و کلا ړې دزړ ی کـتی دپا سه پر یوتم..' زما پر یوتل او دخو ب را تلل یوځا ی ؤ . . . . .

هغه چه و ا ئی چه د تشو یش خو ب له عجا ئبو نه ډ ك و ی ر ښتیا ئې و یلی د ی ..' ما هم د ا عجا یب ولیدل . . . . .

ز ه گور م چه لا رنس دا کبرخان‌سره غیږ‌په‌غیږ دی..' مکښا تن هم ځان حملی ته جوړ وی . . ' تور ی‌ته‌ئې لاس کړاورا غی د کبر په‌سر ودر ید ..' په څه چل ئې ا کبرلا ندی کړ..'اوس یوه‌شپېه ورو ستەبه‌د ا کبر سر . . . له تنی څخه‌جد ا کړ ی .

لار نس ا و ا کبر هما غه شان په ځمکه توغ ړیدل.. غوزول پرزول ئې سره کو ل . . ' منکا تن هما غسی توره ایستلی ولاړ دی اوموقع ته گوری .. '

مکـنا تن مخ لا ر نس تـه راوار اوه وئی ویل ځا ن بچ کړ ه ' د ا کبر سر اودا.. ' تورځان ئې گو زار ته جوړ کړ خوسم ئی لالاس پور ته کړی نـه ؤچه د زشو مکنا تن چغه و کړ ه اوپه ځمکه راولوید.. ' ا کبر خپله با دری کړی وه . . . (۱) له د ینه پس ما نور څه و نه لیدل . . ' چا را ته لاس په سینه کیښود اورا بید ا ر ئې کړم . . ' .

خیا ل می کـاوه چه خوب گورم . . ' با ور می نه کـاوه چه گـنی دا ځلی بیدار یم . . '

. . ' څه چه می لید ل دویر ی نه به می ستر گی پټی کړې . . '

چا چه ز ه د خوب نه را ویښ کړ ی وم هغه یوسپین زیر ی پښتون ؤ . . ' یو گډ ی ر لو خی ئې په غیږ کی نیوو لی وې او یوتو سندا ور پسی ؤ . .

چه زه ئې را پاځولم نو لو خی ئې لمر ته وا چو لی ا وسند ا ئی د گـا نی ر په لټ پو ر ی وتا ړ ه . . ' بیا راغی اوماته ئې څه وویل چه زه ئې په خبرو پو ه نشو م. . . .

هغه چه پو ه شو چه زه خبر ی نشم کو لی نو خیا ل ئې و کړ ز ه بیر ایم ځکه ئې په اشا رتونو لا س پوری کړ . . . .

---

(۱) دا واقعه د ۱۸٤۱ گـال د دسمبر په ۲۸ ورځ شوې اوشرح ئې په تاریخ کی وگوری ۱۲

ما خو په ظا هر کی د هغه سپین زیر ی اشار تو نو ته کتل خو په با طن کی را سره د ځا ن و یر ه وه .. ' په زړه کی می تیر یدل چه او س چیر ی نور خلک خبر نشی ا و بیر ته می ونه نیسی . . .

سپین ز یر ی هما غه شا ن اشارتو نه کول اوماته هم خدای بها نه کړه ا و ځا ن می ورته بیرا کړ . . .

سا عت په سا عت اوشیبه په شیبه به می ویره زیا تید ه ' لارمی ور که کړی وه .. ' نه پو هید م په څه قسم له هغه سپین زیری څخه نه ځان خلاص کړم . ' د ځای نه را جگ شوم . ' سپین زیری ته را نژدی شو م .. ' ما سپین ز یر ی ته کتل خو هغه خپلی ز ړ ې کتی ته ستر گی نیولی وی .. ' په تعجب کی شوم ا و ما هم مخ شا ته وا را وه او چیرته چه یرت وم هغه ځای ته می پام و کړ .

ر ښتیا و ا ئی چه تقد یر ته تدبیر نشته ' په کتنه با ندی را نه بټه و له و یدلی وه اوزما یو عسکری تصو یر تر ې بهر لوید لی ؤ .

سپین ز یر ی هما غه تصو یر ته کتل .. ' کله به ئې ما ته و کتل او کله به ئې تصو یر ته . . ' پوه شوم چه سپین زیری پیژندلی یم ـ ..

د هغه نه وروسته د سپین زیر ی رنگ بدل شو ' ستر گوئی را نه ز ړ ه و و یست بریتونه ئی له ډیر قهرا و غضب نه ولړ زیدل او په ډ یر هیبت ئې لاس را و را ندی کړ او له گریوان څخه ئې ونیولم .. ' سپین زیری په ډ یر قو ت سر ه را ښکلم او چغه ئې کړه .. '

زه پو ه شو م چه که لږ ډ ې ځا ن سست کړ نو بیا کښې تی فو د ځا ن

دخلا صولو د پا ر ه‌له‌سپین‌زیری‌سره‌ونښتم ..' زما ا و د هغه پښتون سپین زیر ی په منځ کی د یر تفا وت ؤ زه‌ځوان ځلمی وم‌اوهغه زو ړ بو د ا. .' خوبیا می‌چه هرځه‌و کړل لا س می پر ی‌برنشو . .

له‌توان‌اوطا قت‌څخه و لوید م..' حیران‌پاتی وم 'نور می ځان تسلمی ته‌جوړ کړ. .' بی حر کته په‌ځمکه ولوېدم‌خو د ډیر قا ر ا و ناامیدی دلاسه می دهغه‌پښه وچیچله ...

سپین زیری دډیر دردنه چغه و کړه اوزه ئې پریښودم..'بل‌څه‌می‌له لاسه نه کید ل ' منډه‌می کړه او یوه غټه تیږه می‌را وا خسته اوسمه می د هغه په سر وویشتله '. .

دسپین‌زیری نور هیڅ‌غږپورته نشو..'دسرا وپوزی‌څخه‌ئی‌دوینوداری‌لاړی..' په غریب کی نورتـکی سا نه وه ..'

په ستر گو می توره تیاره راغله ..' دسپین زیری مغزوته می کتل‌اوزړه می په وېره کښی ؤ مایه دی نشان نه‌څوک لیدلی ؤاونه می‌څوک وژلی ؤ .' په دی کار ډیرپښیمانه وم .' سړرا باندی گـرځیده' زړه‌می‌بدبد کیده .' لا سونه او پښی می لړزیدل .' ځان اودنیا ته می بدردو یل ..'

'هرځه‌چه شوی وو نو څه می نه شو کولی .' په ځان می ګوتی و و هلی اوپه و یر ه ترهه له هغه ځای نه را روان شوم او په د اسی حا ل کی چه توبی می ویستلی په لار راروان وم '

دنیا را باندی تنوروه .. هر کام چه به می‌اخسته نو شا ته به می کتل تردي اندازی یوری چه له خپل سیوری څخه به وبریدم ..

په ویره خوف یریدم خو سپین زیری قتل را باندی ورځ تورتم کړه.. نه پوهیدم چه په څه شان په لار روان یم . پښې به می په ځان پسې را ښکلی ...

په ورانو ورانو به روان وم.. سمه می پرښې وه ، دغه په شا ن به کله دیوي ونې ډډ ته ودریدم او کله به دبلی ونې.. په دي ډول به می لا روهله نه کنده عرمه به وه چه زه دعلی مسجد علاقې ته ورنژدی شوم .. دلرې نه یوه آبادی ښکاریده دا آبادی لکه په ماښام کی چه د آسمان لمنی په دوړو تو خړی وی داسی ښکار یده ..

د علی مسجد په لیدو خوشحاله شوم ، لږ لږ می پـه پښو کـی حرکت پیدا شو اوځان می نور د مصیبتونو نه خلاص ولیده اوف څو مره می علی مسجد ته سودا وه.. ماویل چه زه یوځلی دي ځای ته ورسم نو نوره می څه پروا نشته دی .. دغه دی اوس دلرې نه را ته علی مسجد ښکاری .. له خوشحالی څخه می په وجود کی وینه وچلیده .. لاس او پښو می قوت پیدا کړه، چالاکه شوم، ماویل چه ژر ورورسیږم مـګر داخوراته نه وه معلومه چه هلته د وخته د کرنیل وایلد لښکري مانی شویدی او د پښتنو په لاس ورغلی دی... په سوچ او فکر کښې روان وم... اوعسکری چونې ته نزدي ورسېدم ماته خو علی مسجد دامن ځای ښکاریده اودسره می د خالد خبری یادي نه وی چه ویلی ووچه دوایلد له مانی څخه په علی مسجد کی مـکښ هم خبر شوی

دی اوپه‌علی‌مسجد کی دنوم دپاره هم‌زمونیز کوم‌عسکر ندی‌پاتی ...

لوزه می‌چوره له یاده ووته.. ' یوازی څه‌سابه می‌په لاره کی را وشکول اویوڅوکپه می‌تړي وخوړل.. 'هغه غټ‌غټ بوتان چه‌زمایه پښو کی وڼډېږئی په زحمت کړی‌وم.. ' کیناستم اوبیامی‌هغه له‌پښو نه‌وویستل.. ' ځان‌می‌ورته سپك کړ...

اوس‌پوره علی‌مسجد ته‌رارسیدلی وم.. ' دلری نه می‌عالمونه عالمونه‌خلك لیدل چه خوزیدل راخوزیدل.. ' دلته بیادځان‌ویره راپیدا شوه.. ' په خپله غلطی‌ پوه‌شوم' رایادمی شوچه علی‌مسجد خو پښتنونیولی دی ...

نور می نوځان په‌مرګ وشمیره دخلاصون لاره چاره نه وه.. ' ستړی ستومانه په‌پوې‌پولی کیناستم‌اودنامیندی‌راوښکی‌مې په‌مخ راروانې‌شوې...

له‌ځان سره به‌مې دخدای پاك نه ګلی ګوزاری کولې ماویل خدا په ستابنده خویم کښنه.. ' دومره لاره‌می ووهله ولوزی‌اومصیبتونه می‌تیر کړل چه ګنې که‌خلاص شم خواوس ګورم چه‌په‌زوره می‌ځان‌دخطرپه‌خولی کی واچاوه.. ..

سرمی تیټ ؤ' دژړادلاسه می‌سلګی‌ وهلې.. 'دبی‌خوبی‌ نه‌می‌سر کدؤ.. ' سترګی می‌پرسیدلی‌وې .'دخولی‌مزه‌می‌دومره بده وه‌چه‌هره ګړی‌به‌قی‌راته...

کله‌به می ځان اوطبیعت ته‌په کنځلو شروع وکړه‌او کله به می سر آسمان ته په زارو پورته کړ کله به‌می‌جنرال سیل ته بدردویل چه زه ئی په‌دې مصیبتونو اخته کړم او کله به می پښتنو ته دبد لی اخستلو و ینی

وخوتکیدې چه‌دې قوم دومره‌مونږ تباه او برباد کړو.. کله‌به‌مې قهر دومره زیات شوچه‌غاښونه به‌مې وکړسیدل او کله‌به‌دومره‌غلی‌شوم‌چه‌دقبرمړی‌رانه‌جوړشو.

شاوخواته می‌پام نه‌ؤبالکل بی‌هوشه شانتی وم‌او که‌چیرته د پښتنی‌پیغلو سندرو زه‌نه‌وی خبر کړی نوهماغلته خوب‌ورلم ...

هوا! داپښتنی پیغلی وې چه‌منګی په‌سرراروانې وې‌اوپه خوږو آوازونو ئې... سندری‌ویلی.

ماته ډیرې رانژدی وی..' ماځان پټ ونشو سائلی' ټولو ولیدم او یوې نیمی لاوخندل...

ځان سره می‌جاج وواهه. چه‌چیرته دوی‌هم دسپین زیری په شان‌ما ونه پیژنې‌اوپه‌بلامی ککړ نکړی' نوناڅاپه‌راپاڅېدم‌اوپه منډومی لاس‌پوری کړ.

زمادا کار خوپه‌اصل کې ډیرغلط کارؤ لیکن هلته مادغلط او صحیح ښه اوبدتمیز نشو کولی..' هرڅه‌به‌می‌بی اختیا ره‌اوبی‌سنجشه کول..'دهمدې کبله چه پښتنو پیغلو زمادا کار ولیده نوپه تعجب کې شوی...

زه لادپیغلو نه‌لس قدمه لـری شوی نـه‌وم چـه‌هغوی پـه مـا پسی غږو کړ اوڅه‌ئی‌راته وویل چه‌زه‌له‌ویری څخه نه‌ودریدم اودوی راپسی له‌شانه ناری و هلی تردې‌بره‌حده چه‌زه‌تري په‌منډه لاړم نوهغوی پوه شوې چه اوس‌ئې له‌نظره پناه کیږم نودتمانچی ډزئې‌را باندی وکړ اوروغ ئې ز ما چپ‌لاس زخمی کړ...

دردتاوراتاوکړم..' په‌ستر گومی تیاره راغله اوپه‌ځمکه راولویدم.'' نور

په ځان پوه نشوم...

. خولی خولی وم چه را بیدار شوم..' ستر گی می پر انستی او ښه می شاو خوا ته وکتل..' چه هر ې ډډی ته به می ستر گی وا ړولی پښتانه به می ډلی ډلی ولیدل چه ما ته ګوری نو دغه وخت په دی پوه شوم چه قصه څه ده ؟...

بیا د پښتنو په لاس کیوتم..'

لاس می نری نری درد کاوه..' په دې د ومره موده کی چه زه بیهوشه اود ځان نه ناخبره وم هغوی زما لاس غوړ کړی او په یوه سپینه توته ترلی ؤ ...

کالی مالی ئې هم رانه ایستلی وو او نور ئې راته اغوستی وو نو رنو ښه پیژندل شوی وم..' هر څه ئې زما لټولی وو.

هلته نه څوک زما په ژبه پوهیدل او نه زه د چا په ژبه پوهیدم د هغوی آرزو خو داوه چه زما نه د پرشیونه وپوښتی او پوه شی خو خبره ژبی سخته ګړی وه..' نور خوشه ونشو خو یوازی په دې جرم چه زه یوا نګریز جاسوس یم برا بر ئې زندا ن ته ورواچولم په هغه زندان کی ما د پرخپل افسران ولیدل چه د کرنیل وا یلد د حملی په وخت کی پښتنو نیولی وو .

ددې نه پس زما شپی په زندان کی شوې..' هر څه رانه پاتی شو نور د خدای هیلی ته پاتی شوم..'

اوتول خپلې آیندی ته منتظر ؤ...

د کرنیل وایلدماتی

زمونږ په زندان کی شپاږسمه ورځ وه.. په دې موده کی مونږ دیر څه ولیدل اودیر څه مووارویدل ..

دنیول شووافسرانو په لړ کی یو کیپتان بدفورډ.. بدفورډ په ۱۴ لمبر ریجمنټ کی ؤله کرنیل وایلدسره دده ملګرتیا او مرسته لامونږ ته پخوا معلومه وه.. خوڅو واری وایلد له دده نه خوښی ښکاره کړی وه...

دشپی چه به له ډیره غمه چاله خوب نه ورته نو هر یوبه خپله قصه یا یوه خاطره بیانوله.. په چاچه به څه تیرشوی وو هغه به ئې نږدې نږدې بیانول ماهم ورته د زرینی او خالد قصه بیاورپسی د زرینی د پلار وژل او د قاتل ننګ او غیرت د هغه نه وروسته د جمال خبری او د کیپتان اندرسن دلور موندنه کړل.. ټول ټکی په ټکی ویل.. اکثرو ته ترهغه وخته پوری داندرسن دلوراو دالفښتن دماتی او د مکریګر کلابند کیدل نه ؤمعلوم.. حتی اکثرو داملك نیولی حساب کړی ؤ.

ماته هم په خیبراو علی مسجد کی د کرنیل وایلد ماتی یوه نه منونکی خبره ښکاریده.. هیڅ می باور نه کاوه چه څرنګه به مکښی او کرنیل وایلد په خپلوسنجولو نقشو کی ناکامه پاتی شی دهمدې دپاره می له کیپتان بدفورډ څخه د دې علت پوښتنه وکړه بدفورډ ته می وویل چه ولی مو په خیبراو علی مسجد کی بری ونکړ؟

بدفورډ دیواوزډ اوسیلی نه ورووسته په خبرو شروع وکړه اووئی ویل : دپښتنو له لاسه په خیبر کښې زمونږ ماتی یوهم رازدی. ګمان

ماتی ددې سبب شوچه په تولې پښتو نخوا کی غلبه د پښتنو وی له ډېری مو دې څخه مو نبزله پښتنو سره په جګړه اخته یو خو تر ننه پورې مو یوه هم داسی اهمه فتح و نه کړه چه په هغی ددې قوم ملاماته کړو...

مستر جانسن! خیال نه کوم که تاپښتا نه زما په خیر پیژندلی وی.. نه نه.. یوازی زه داقوم ښه پیژنم او ددوی له خوی او بوی سره بلدیم...

کرنیل وایلد ته خولا په اول کی ماویلی ووچه ته په خیبر کی د پښتنو مخه نشی نیولی .. په علی مسجد کی چه ستا سو کومه چونې یا لښکر ی شته هغه تولی د پښتنو دحملو او یرغلونو مقاومت نشی کړی..

وایلد که چیرته زما مصلحت اوریدلی وای نو دومره تاوان به نه ؤ وررسیدلای .

دجنوری په ۱۵ کرنیل وایلد خپل څلور ریجمنته دوه ځایه کړل، دوه ریجمنته ئې مخکی کړل او ځان ئې علی مسجد ته ورساوه... دا هغه تاریخ وچه اکبرخان له دې تاریخ څخه دوه ورځی دمخه لغمان ته راراسیدلی ؤ..

کرنیل وایلد ته پښتنو په اول کی څه غبرونه کړ.. وایلد خو شخا له شو اوخیال ئې و کړچه پښتا نه گوندی له ویری نه راوړاندی نه شول، په دې نه پوهیده چه پښتنو ځان جوړ کړی دی چه دوارې لښکری بیلی بیلی له منځه یوسی .

دهمدې کبله کله چه ده دوهمه پیره نور لښکر وغوښت نو دجمرود نه دې خواپرې پښتنو غوبل جوړ کړ ...، وایلد په خپله زخمی شوا وسیکانو دو یر ی دلاسه دوایلد او نورو افسرانو په مقابل کی سرجګ کړاو بغاوت ئې و کړ هریو شا اړوله او تیښته ئې کوله وایلد خو نور دژوندو له کتاره وتلې ؤاو که چیرته ز ه

نه‌وی وررسیدلی نودوجود توتی به‌ئې ډم‌چانه‌وې پریښی .... مستر جا نسن! زه گمان نه کوم چه‌تابه کله په‌ذې شان جنـگ لیدلی وی . . ' تو پو نه به چاودل .'' خپل ځان به‌چاپوره نشو ساتلی دفتحی او غلبې امید خو لا په ځاې پرېښزده .....(۱) هماغه شان چه‌تاخپل اسارت‌اوښند ' دخالد اوزر ښتی په‌لاس ذ کر کړیه‌هماغه‌ډول دوایلد نائب‌سرجنټ فیوری‌چه دلته ناست‌دی هم یوې پښتنې پیغلی ونیو .. ' ....'

جانسن ! زه ددې‌قوم نر او ښځی نه حیران یم .. ' دجنـگ په وخت کی دواړه یوشان وی .. ' نراو ښځه نه‌معلومیږی .

دجنوری په ۱۷ چه‌وایلد دحملی امرو کړ ' زه اوسرجنت فیوری دتو لو نه مخـکی دجمرود برسرته ورسیدو .. ' پینښتنو دیوې کلا دمنځ نه‌په مونیزډزې کولی اوهر څرمره کوښښ چه‌ما اوسرجنټ وکړ یه‌هغوی بر یالی نشو . . ' دهمدې کبله فیوری ماته وویل چه زه کلاته اورا چو م او دا تو ل پکښ لوخړه کړم .

هرځومره چه ماهغه‌ددې کار نه منع کړ ونشو .. ' لاړاو کلاته‌ئې‌اور و اچاوه په‌یوه شیبه کی‌تولې کلااور واخست ..

لوخړی اولمبی ئې اسمان ته‌وختی . ' بیاهم دفیوری زړه یخ نشو او منډه ئی کړه دکلادروازی‌ئی ځنځیر کړې چه دتیښتی‌لاره په‌پښتنو بنده‌شی . . . . فیوری هماغلته په‌یوه جگه غونډی کیناست اوداور دلم و سیل‌ئی کاوه .. ' مونیز لاړو اوفیوری پاتی‌شو ... دهغه نه‌پس خپله قیصه مونیز ته‌فیوری و کړه

(۱) ددې‌جنگ په باب دکهزاد په «درزوایای تاریخ معاصر افغانستان» نو می کتاب کی ښه بیان لیکل‌شویدی .

اووئی ویل : زەیە هماغە عونیی کلاری کیناستم او د کلا دسوئبدو تماشە می کولە .. ، لمبو اولو کوتە بەمی کتل چە دور یخې یە شان دا سمان خواتەروان ؤ .....

نورمی زەبی غمە ؤاولە ځان سرە مې داویل چەبوساعت وروستە بە ددی غریبو سکاوە شوی بد نونە و گورم .. ، هیڅ می دایە خوا و خاطر کی نە گرځیدل چە داپښتا نە دی او داسی ژرنە مری .....

کلە بەمی د کلا دروازوتە کتل او کلە بەمی ددیوالونو سرو نە لە نظرە ایستل .. ، اورشیبە پە شیبە زیاتیدە اوزە هم نور تلوتە جور شوم .. ، خوسم لادځای نەنەوم خوځیدلی چەبو واری بیایە ډزو شروع وشوە .. ، حیران پاتی شوم چەداخنگە خبرە دە .. ، . .

ماهم یە مقابلی لاس پوری کړ .. ، هم بەمی ډزې کولی اوهم بەمی خوا وشاتە کتل ددزویە منځ کی می یوځلی ستر گی پەیو بنیادم ولگیدې چە دپرې پەزور د کلا ددیوال تلاندی را کوزیږی .. ، ددزو دومرە زور ؤچە ماځان نشوپیژندلی .. ، زمادیوە ډزسرە بەهغوی سل ډزې کولی ...

دومرە می وار ساز نشو او فکر می نە ؤ چەا و ل خو هغە د د یو ا ل نە را کوزیدو نکی وولم ، او کە چیرتە می دا کار کړی وای نو ضرور بەفتح او غلبە زماوە ....

پەځان پوە نشوم .. ، دیرپښتا پەشان هغە یو ځمکی تە ځان را و ر ساوە بیا می ونەلید چەځەشو . دستر گو پەرپ کی ز ماشا تە را ر سید لی ؤ څە

می کړه وای، مخامخ له کلانه رابانديدزی کيدې اودشانه هغه بل وژلم..، لار را نه ور که وه .....

هوزويه منځ کی رابانديدشانه غبزوشو ..، داغبز دومره نژدی ؤچه ما خيال و کړ يه خنګ کی می چا داآواز و کړ...

نورپوه شوم چه مقاومت ګټه نلری .. ، ځان می غلی کړ ..، دژ ې می بس کړی .. ، کلاره کلاری شوه اوپه همد ې وخت کی چه په کلا کی څوک وتول دپړی پەزور را کوزشول .،...

دتيښتی لاره می لټوله ..، دويری نه لړزيدم ..، څوک می نه ليدل خو يوا ز ی آوازونه می اوريدل . . ، تعجب می و کړ ځکه داآو ازونه د پښتنو پيغلو آوازونه وو ..، ....

خيال می کاوه چه گوندی خوب گورم..، دادو مره جنګ ماد پيغلو سره کړ ی ؤ اودغه دی اوس دپيغلو پەلاس کيږم ...

دقهر اوغصې نه تاورا تا وشوم . . ، بيا می تمانچی تەلا س کړ او غوښتل می چه دسره جنګ شروع کړم..، ماويل چه يا مړ شم اويا ځان خلا ص کړم خو لی خو لی شوې وم..، په کلاری باندی می دتمانچی ججوره د که کړه..، سمه يوه کينته می ور کړه ا..، اوورو می ځان وخوځاوه ....

زړه می ښه داډه کړی ؤ..، چه جګيدو ته جوړ شوم نوپه شامی يوشی ولګيد زړه می ولويد اومخ می په ويره ويره شاته واړاوه ..، د لته زما تول جرء ت او تاريښتوب ختم شو پښتنی پيغلی راته توپك شا ته نيولی ؤ ....

مستر جانسن نور درته څه نه وایم.. په یو ټکی دې پوهوم او هغه دا دی چه په هغه کلا کی چه څوك داور په لمبو کی خوزیدل راخوزیدل او بیا په پری داور له لمبو نه راووتل هغه تولی پښتنی پیغلی وې ....

دلته په دې زندان کی چه زه له تاسی سره پروت یم هما غو پښتنی پیغلو راوښتی یم.. او په همدې زندان کی ماد کرنیل وایلد ماتی په خیبر او علی مسجد کی واوریده ...

داور لمبې

دفروری دمیاشتی څلورویشتم دجمعی ورځ وه .. زه په تبو پروت وم .. دبونټ دمرګ اتمه ورځ وه او باران لبزلبز وریده ..

فیوري اوبد فورد هم دمیجر بونټ په مرګ خپه شانتی ښکاریده .... کله کله به ئې یوه نیمه اونیکه هم له ستر ګونه راتوی شوه ....

بونټ غریب اخر په خپله سزاور سید.. د کپتان اند رسن دلور آزار وو اهه او هماغه شان ئې چه هغه ته ځان غلی کړی ؤ مرګ هغه ته غلی ؤ. ..

بونټ ته تقدیر پیښه کړه .. هغه خو هم انسان ؤ او انسان خود سر نوشت او تقدیر په لاس کی یوه د کپړو ګودی ده ..

هر څه چه ئې په تندی و رته لیکلی وی هما غسی کیږی .

ماته دبونټ دمرګ اووژلو قصه بدفورد و کړه نه پوهیږم چه هغه له چا څخه اوریدلی وه .... قصه خود اوه چه کومه ورځ راته ښکاری چه میجر بونټ ځان تیښتی ته جوړ کړی ؤ اودشپی دشپی له کلا نه را وتلی ؤ .. له بده قسمتی نه په

غريب د کلاخلـك خبر شول اوچه له لرى نه ئې پرى ستر گى و لـگېد ې نوبس له هماغه ځاى نه ئې پرى ډز و کړ اوځاى په ځا ى ئې فيصله کړ داد بد فور د دخولى خبره وه ايسته خداى بنه پوهيږى . . . .

په دې ورځ مونږ په خپلو منځو کى سره خبرى اومر که کوله دچا ى پيالى مومخى ته پرتې وې اوډډې مواچولى وى . . . .

مونږ په پټه پټه دجنرال پالك دلښکرو دراتـگ آوازه او ر يد لى و ه .. ' په ز ړ ه کى خوشحاله ووچه که پا لك څه و کړى نو ښه به و ى که نه نود ې نوروخو څه و نه کړ ل ....

پښتا نه هم ددې نه خبر شوى وو .. ' مخکى ئې لاورته ځانونه سمبال کړى وو اوديا لـك اودهغه دلښکرو دمر گ تړ و ن ئې کـا و ه ....

اورمازيگرؤ .. ' دزندان په يوه کونج کى ځلمى جيمى دخپلى چنغلى دتصو يرسره خبرې کولى او کـله کـله به دهغه په خبرو مونږ ته خندا راغله ... په همد ى وخت کښې دباندى نه غلور تنه جـگ جـگ پښتانه ر ا ننو تل .. ' بر ا بر ر اغلل اومونږ ئې له لاسونو څخه و نيوا و بهر ئى بوتلو .....

ددغو پښتنو په مقصد مونږ خبر نه وو . ' نه پوهيدو څه مو کو ى او چير ته موبيائى .. ' حيران پاتى ؤو .... دوه مخکى دوه ر ا پسى اومونږ ئې منځ کښې وود کلا له دروازى څخه بيرون لاړو . . .

دوه درى کروه لرى هلته ديوجومات څنگ ته ورسيد و . . په ز ر گو نو خلـك راغو تد شوى وو د خلـکو په منځ کى پيغله سوزان ولا په و ډا و په

څنګ کې ئې يو بنا يسته ځلمی و لاړ ؤ ... مونږ چه ور ورسيد و نو برابرئی بو تلو اودسوزان په خوا کی ئې ودرولو .. بيا د و ونو سپين ږ يرو د قران تلا وت و کړ ترهغه و خته پو ري لا مو نږ له قصی څخه خبر نه و چه څه خبره ده .. يو بل ته موسره په تعجب کتل...

دقرآن دلوستلو نه پس سپين ږيرو قرآن سوزان ته ور کړ او سوزان هغه په دوارو ستر گو کينبود اومچی ئې کړ.. دې تولو کا رو نوته مونږ په ډ ير تعجب کتل..

سوزان لاقرآن هماغه شان په غيږ کی نيولی ؤچه سپين ږيرو په څه و يلو شروع و کړ.. بياهم پوه نه شوو خويوازی ماچه په ډير غور دې محفل ته غوږ ونيونو دسپين ږيرو له خولی څخه می دمحمد نوم واورید.. او له هغه و رو سته په مطلب پوه شوم ..

ماخومخ کی تاسو ته وويل چه ماقرآن په خپل کو ر کی لو ستی ؤ او کلمه چه سپين ږيرو دقرآن ځينی الفاظ وويل نو په فکر کښی می وگر ځيد ل هغه ا لفا ظ چه ما وارو يدل او هغه بيا سوز ا ن په ژ به ر ا و ړ ل لااله الاالله محمد الرسول اللهؤ . .

زه دغی تولنی په حقيقت پوه شوم.. دسو زان دراوستلو په مطلب هم ورسيدم .. اوچه دا کلمه سوزان وويله يوځلی می دوازه سپين ږيری وليدل چه سوزان ئی په تندی اومخ مچی کړه.. په هغو تولو خلکو کې يوعجب شانته

جم‌وجوش پیداشو..' تولوڅانونه سوزان ته‌وارسول..' چابه دهغی‌جامی‌نیو لی اوچابه پری کلان شیندل..' دتوپکو نوخولی اسما ن ته شوې اویه دز و بنا وشوه..' زه‌هم‌پوه شوم‌چه‌سوزان مسلمانه‌شوه... پښې‌می لړزید ې اوزړه می تاو کاوه تابه‌ویل چه‌په‌سینه کی می داورلمبی بلی‌دی..'.

سرمی کنـکس‌ؤ..' شوندې‌می وچی شوی‌وی ..'اود سوز ان سراوپښتوته به می کښتل...

نوره‌سوزان ز ما په نظر کی‌بل شان راتله..' خیال‌می کاوه چه‌له مخ نه ئې‌دنور شغلی پورته کیږی ..'اوداشغلی برابری ر ا څی اوز ما له ستر گو را چاپیره کیږی .

زه‌هی نری‌نری کیده ..' دپښتنو دغی خو شحـ لی ته چه به می کښتل نوژرابه‌را تلله... اوبی اختیاره ئی‌زه هم کش کړم.

نورافسران چه‌می‌څنـگ کی‌ولاړوو تولورا ته په تعجب سره کښتل ..' حیران پاتی ووچه په‌مـا څه‌شوی‌دی...

دسوزان په‌مسلمانی‌ړ باندی‌زماهم‌طبیعت گډوډ شو..' د کلمی په اوریدو می‌دزړه‌پردې ورپیدې..' څان‌او دنیاراته بل‌رنگ ښکاریدل..' روح اوعقل می‌بل‌بل څه‌سنجول خیال‌می کاوه‌چه زه‌هم‌دسوزان په‌شان مسلمان شو ی‌یم په‌اسلامی دنیا کی قدم‌وهم‌او دمسلمانانو سره کښېنم پا څم په دې‌فکرو نو او خپالونو کې‌وم..' په‌څان ښه‌نه‌پوهیدم نوبې اختیاره می کام‌مخکې واخیست

لارم او دسوزان سره ودر یدم، لرز ید م او مله ستر گوشخه‌ی او شکی را تو ئیدي .

خلك حیران پاتی وو.. تولورا ته ردرډ کتل، سپین زیر ی هم په تعجب کی شول ما په انگریزی ژبه سوزان ته وویل: سوزان! زه هم غوا ړ م چه ... مسلمان شم...

سوزان چه زما خبره و اور یده نود خو شحا لی نه ئي ز ه په غیز کی. و نیولم اوراته ئي په خندا وویل

اها... کیپتان جانسن ... ژرشه.

سوزان سپین زیری ته څه وویل زه پری پوه نشوم، هغومخ خلکو ته ر اواړاوه او دځه تقریر نه وروسته ئي هماغه کلمه چه سوزان ته ئی ویلی وه ما ته هم وویله اوما په صحیح ډول باندي هغه تکرار کړه .

. زه دانشم ویلی چه دهغی نه پس په هغوزر گو نو خلکو کی څه حال پیدا شو یوازي همدومره وایم چه زه نور په ځمکه نه وم بلکه دخلکو په اوزو گر ځیدم.

سوزان دلفټننټ جنرال او پن هایم لوراودسرجنت گلین چنغله وه.. ډډ بر پخوا نه سوزا ن دسر جنت گلین سره په جمرو د اوبیا علی مسجد کی اوسیده په هماغه ځای کي په یو پښتون زلمی مظفر مینه شوه اود همدي زلمي په خاطر

مسلمانه هم شوه ...

دسوزان دمسلمانی نهمه وریخ وه چه دمظفرسره ئې دوا ده بندوبس وشواوداهغه وریخ وه چه پښتانه په هرځای کی کامیاب شوې وو، او نوریه خیبر او علی مسجد او جمرود کی کلاری وه .

زمونږ یعنی زما او دسوزان مسلمانی دپښتنو دپاره بختوره وه ... دفر وری دمیاشتی په څلورویشتم تاریخ زه اوسوزان مسلمانان شوو اوپه همدا غه وریخ غیاث خان به جرنیل سیل غوبل جوړ کړ.. دجلال آباد په بنار کی دا ور لمبی بلی شوې.. اړد چونې نه د ډ ندی دسیل له لښکرو څخه پوا ز ی د ر پ تنهٔ ژ و ندی پاتی شول او بس...

هلته دجر نیل سیل لښکر ې تباه شوې اودلته دّنور و نیو ل شوو افسرا نو دمر ګ حکم او فیصله کیده..

فیوری او بدفور د او نورو ژړل.. دپښتنو په ډینو کی توغږ یدل او له هغو څخه ئی غوښتنه.. ما او سوزان دواړو په خاطر جمې سره هغو ته کتل...

پښتنو دهغو په ژ ره کی په جر گه پیل و کړ له جر گی څخه ورو سته د و مره فیصله و شوه چه څوتولې انګریزی لښکری له پښتو نخوا څخه و نه وزی تر هغه پورې به دغه افسران ژوندی پاتی وی .

مادا فیصله هغو تولو افسرا نو ته ویله او هغوی په دی فیصله دومره خوشحاله شول چه اندازه ئی نه وه...

افسران دەغی ورځی په انتظار په زندان کی شپی ورځی سبا کولی اوزه هم دسوزان دمیړه مظفر سره پاتی شوم...

سوزان چه ته مانه غږ کاوه نوعبدالله بهئ راته وایه او ماچه به دسوزان سره خبری کولی نوسپوزمی به می ورته ویل.. شپی ورځی په منځ کی دیوی تپوی شوی، اخر دنورو پښتنو په شان زه هم د کور اور خاوند شوم او له خپل پښتنی بی بی سنځی سره له عشق نه ډک ژوند شروع کړ.

PROPERTY OF ACKU 5638

دخیبو ی نور کتابونه

۱:- لکه‌های خون

۲:- طوفانها

۳:- د یو انه

ناچاپ شو ی :

٤ :- تبهکا ر

٥:- بالهای زرین

دولتی مطبعه